

(د تنکیو زلمیانو د ذهني ودې لپاره)

# ۱۰۰۰ ذهني پوښتنې او ځوابونه







مطیع الله پرهر

Download from:aghalibrary.cm

Download from:aghalibrary.cm

# ډالۍ

مرحوم زاهدالله جان ته!

چې هم مې ورور و او هم استاد.

او د سر سیوري گرانقدره پلارجان ته!

چې په دې تورتک تورتک ماحول کې یې د علم ږده کرې لپاره قلم، کتاب او کتابچه په لاسونو کې راکړي.

م. پرهر

# دا کتاب... .

له کتاب او قلم سره تقریبا له نن نه بوولس دولس کاله پخوا نه اشنا شوی یم، خو هغه وخت لا د کتاب لوستنې او د کتاب په نورو ارزښتونو نه پوهېدم، ورو ورو راولوېدم او کتاب سره مې مینه همداسې ډېرېده او اوس د رب هزار بار شکر، چې زه دومره شوم، چې د خپلې تولنې تنکیو زلمیانو د ذهني ودې لپاره د خپل زیار یوه وړه ثمره وړاندې کوم، هیله لرم چې هم به یې پرې د مطالعې تنده خړوبېږي او هم به له نورو سیالانو کم نه راځي.

زما د زړه سر، گران مشر وررور زاهد الله جان دې الله تعالی په جنتونو کې، هغه به زه په زوره کتاب لوستنې ته تشویقولم... او همدا به یې ویل: زده کړه وکړه او نورو ته یې ورسوه... د لایزال رب ډېر شکر گوزار یم، چې زما د ورور دا ارمان یې هم راپوره کړ.

دا راز له خپل درانه او گرانقدره پلارجان څخه هم د زړه له تله مننه کوم، چې په دې توپک توپک ماحول کې یې ماته قلم په لاس کې راکړی او تل راته وایي، چې ته زده کړه وکړه، زه یې درته گټم... الله تعالی دې ورته ددې سختیو او تکلیفونو اجر په دنیا او اخرت دواړو کې ورکړي.

د گودر کتاب خپرنځي مشر، زلمی لیکوال، شاعر او ژباړن صادق الله صادق راسره د مجازي نړۍ (فیسبوک) له لوري ملگری شوی، چې زه به یې تل په ملگرتیا او دوستۍ ویاړم او دا د هغه هڅې، مینه او تشویق دی، چې تل راته د ښو کتابونو لوستنې او زده کړو ترځنگ د ژوند په نورو چارو کې هم ښې مشورې راکوي، زه یې د مینې او احسان پوروړی یم، الله تعالی دې ورته په اخرت کې جنة الفردوس او په دنیا کې د نړۍ تولې نېکمرغۍ وربه برخه کړي، چې خپلې خوږې پښتو ژبې ته یې د خدمت لستوني رابډوهلي دي.

دا راز له خپلو هغو ملگرو هم د مینې ډېره زیاته مننه کوم، چې زه یې په دې برخه کې هڅولی یم او ستاسې دې هم کور ودان وي، چې دا کتاب لولئ او گټه ترې اخلئ، د نیمگړتیاوو ښنه کوئ.

په تووله پیښتنه مینه

ستاسې کشر

مطیع الله پرهر

خپله مینه - ښېوه، ننگرهار

پوښتنه: په مېز يوه کاسه کې دوه مالټې د درې کسانو ترمنځ داسې تقسيمول پکار دي، چې هر يو کس ته پوره روغه مالټه ورسي؟

ځواب: د مېز مالټه دې يو کس او د کاسې دوه مالټې دوه نورکسلن راواخلي.

پوښتنه: د ملخ وينه کوم رنګ لري؟

ځواب: سپين رنګ لري.

پوښتنه: د شاتو مچۍ څو سترګې لري؟

ځواب: ۷ سترګې لري.

پوښتنه: مار د څه شي پواسطه لاره پيداکوي؟

ځواب: د ژبې پواسطه.

پوښتنه: د انسان په بدن کې هغه کوم ځای دی چې وينه نه لري؟

ځواب: د سترګو قرينه.

پوښتنه: هغه کوم حيوان دی، چې په ولاړه خوب کوي؟

ځواب: اس.

پوښتنه: په نړۍ کې د غنو څو دوله نوعې دي؟

ځواب ۳۰ دوله.

پوښتنه: د مرغۍ زړه په يوه دقيقه کې څو خله درځېږي؟

ځواب: سل ځله.

پوښتنه: په نړۍ کې څو دوله ماران دي؟

ځواب: ۲۸۰۰ دوله.

پوښتنه: قرآن کريم په دېرشو سيپارو چا ويشلی دی؟

ځواب: حضرت عثمان رضی الله عنه.

پوښتنه: د قرآن کريم لوی سورت کوم يو دی؟

ځواب: سورت البقره.

پوښتنه: په بدن کې زياته وينه څه شی مصرفوي؟

ځواب: ماغزه.

پوښتنه: هغه کومه غذا ده، چې نه خرابېږي؟

ځواب: شات.

پوښتنه: مشهور اسلامي پوهنتون کوم يو دی او په کوم هېواد کې دی؟

ځواب: الازهر پوهنتون دی، چې په مصر کې دی.

پوښتنه: تور دی کارغه نه دی، الوزي مرغه نه دی، بار وړي خر نه دی؟

ځواب: گونگټ.

پوښتنه: تور مرگ نه او سپين مرگ نه څه مطلب؟

ځواب: د تورمرگ نه طاغون او د سپين مرگ نه توبرکلوز يا نری رنځ.

پوښتنه: د کيموگراف اله د څه شي لپاره کارول کېږي؟

ځواب: د وينې فشار لپاره کارول کېږي.

پوښتنه: لومړنی روغتون چېرته جوړ شو او نوم يې څه و؟

ځواب: په بغداد کې جوړ شو او نوم يې بيمارستان و.

پوښتنه: ايا بيزوگانې لامبو وهلی شي؟

ځواب: نه.

پوښتنه: زرغشي يې خوړلي دي لا ژوندی دی، دا لا څنگه شی دی؟

ځواب: شيزگی دی.

پوښتنه: يوه مېرمن او يو سړی اوه زامن لري، چې هر يو زوی يې يوه خور لري، چې ټول د کورنی خو غړي دي؟

ځواب: ټول نهه کسان دي.

پوښتنه: يو پلار خپل زوی ته ۲۵۰ افغانی ورکړې او يو بل پلار خپل زوی ته ۲۰۰ افغانی ورکړې دي، دواړو خپلې پيسې راټولې کړې، چې ۲۵۰ افغانی کېږي موضوع څه ده؟

ځواب: پلار، زوی او لمسی.

پوښتنه: دا څه شی دی، خوله لري غاښونه نه لري، خېټه لري، پښتې او هډونه نه لري!

ځواب: منګی.

پوښتنه: ښکته زم پور می کار دی، د غر په سر انګار دی!

ځواب: چلم.

پوښتنه: یو دی خو په سل سترګو ژړا کوي، نه خوراک او نه خندا کوي!

ځواب: اسمان.

پوښتنه: د زرافې اصلي دشمن کوم ځناور دی!

ځواب: زمری.

پوښتنه: د نوح علیه السلام د پلار نوم څه وو!

ځواب: لامک.

پوښتنه: د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم وروستنی غزا څه نومېږي!

ځواب: تبوک.

پوښتنه: هغه کوم کسان وو، چې په ټوله نړۍ یې بادشاهي کړې وه!

ځواب: سلیمان علیه السلام. ذولقرنین علیه السلام، بخت النو او نمرود.

پوښتنه: محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په څو کلنی کې تجارت پیل کړو!

ځواب: دولس کلنی کې.

پوښتنه: په خمکې کې اولنی ونه کومه شنه شوې ده!

ځواب: کجوره یا خرما.

پوښتنه: د نړۍ زیات پوهان په کوم هېواد کې تېر شوي دي!

ځواب: یونان.

پوښتنه: ټولو نه زیاته اوسپنه په کوم هېواد کې ده!

ځواب: روسیه.

پوښتنه: د هندو کش غره لوړه څوکه څه نومېږي او څومتره لوړوالی لري!

ځواب: د هندوکش لوړه څوکه تجراج میر نومېږي او د بهر له سطحې څخه ۸۸۴۸ متره لوړوالی لري.

پوښتنه: حضرت یعقوب علیه السلام عمر څوکاله و؟

ځواب: یو سل او څلویښت کاله و.

پوښتنه: نوح علیه السلام ته ولې نوح وایې؟

ځواب: ځکه چې ده به ډېر ژړل.

پوښتنه: حضرت صالح علیه السلام د قبیلې نوم څه و؟

ځواب: ثمود.

پوښتنه: د لومړی خل لپاره ساعت چا جوړ کړو؟

ځواب: هارون الرشید.

پوښتنه: په ننني نړۍ کې تر ټولو زیات نفوس کوم هېواد لري؟

ځواب: چین.

پوښتنه: دا کوم شی دی، چې په هرځای کې وي، خو لیدل کېږي نه؟

ځواب: هوا.

پوښتنه: د امام ابوحنیفه رحمه الله اصلي نوم څه و؟

ځواب: نعمان بن ثابت.

پوښتنه: دا به څه وي، چې شنه کوټه ده، سره په کې قالینه ده او تور یې بالښتونه دي؟

ځواب: هندوانه.

پوښتنه: تور غر د افغانستان په کوم ولایت کې دی؟

ځواب: ننګرهار.

پوښتنه: هغه کوم پیغمبر و، چې د صاحب الحوت لقب یې ورکړی وو؟

ځواب: یونس علیه السلام.

پوښتنه: په قرآن کریم کې څو منزله دی؟

ځواب: ۷ اووه.

پوښتنه: هغه کوم شی دی، چې خورې یې زیاتېږي او چې نه یې خورې کمېږي؟

ځواب: روژه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې محمد صلی الله علیه وسلم نه دی کړی، خو که مسلمان یې وکړي نه ګناهګارېږي؟

ځواب: د مور او پلار درناوی.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې له بامه ولوېږي نه ماتېږي، خو چې اوبو کې ولوېږي ماتېږي؟

**ځواب:** کاغذ.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې نه شمېرل کېږي؟

**ځواب:** د سر ویښتان.

**پوښتنه:** سر يې خوږ دی، منځ يې کوږ دی، بېخ يې تریخ دی؟

**ځواب:** کوژده.

**پوښتنه:** دا څه شی دی، چې دولس سړي دي او درې ښځې په منځ کې ګډېږي؟

**ځواب:** ساعت.

**پوښتنه:** یوه ستن ده، درې بامه لري؟

**ځواب:** شفتله.

**پوښتنه:** په تبر نه ماتېږي، خو په پاپړ ماتېږي؟

**ځواب:** روژه.

**پوښتنه:** خړ يې قبر دی، سور يې کفن دی، سپين يې مړی دی؟

**ځواب:** ممپلی.

**پوښتنه:** چې لاس کې اچوي نسکور دی، چې خوله کې يې اچوي اور دی؟

**ځواب:** مرچک.

**پوښتنه:** وړوکی ایدوکی په سند ورګډېږي؟

**ځواب:** مندانو.

**پوښتنه:** خې خې مخ نه اړوي؟

**ځواب:** لوګی.

**پوښتنه:** هغه کوم کور دی، چې نه قلف لري، نه کیلي؟

**ځواب:** هګی.

**پوښتنه:** هغه څه شی دی، چې هر انسان به يې یو ځل اغوندي؟

**ځواب:** کفن.

**پوښتنه:** مور دې سهار پاڅېږي، په سپين وېره لاس لګوي؟

**ځواب:** اوړه.

پوښتنه: چې وراچوي يې دکېږي نه، چې وړې شي صبرېږي نه؟
ځواب: گېډه.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې یو ځل بند شي بيا يې څوک نه خلاصوي؟
ځواب: قبر.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې یوه سترگه لري او يوه پښه لري؟
ځواب: ستن.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې زه څم هغه هم راسره ځي؟
ځواب: سوری.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سپين دی، خو واوره نه ده، ريښه لري، خو ونه نه ده؟
ځواب: غابن.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې نه پښې لري، نه لاسونه، نه يې سترگې شته، نه يې غوږونه، شپه ورځ کوي مزولونه، نه يې دمه شته نه يې خوبونه؟
ځواب: اوبه.
پوښتنه: هغه څه دی، چې یو دی، خو ټل تاسره دی؟
ځواب: الله تعالی.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې نه يې پښې شته، نه يې لاسونه، په هرځای وهي چکرونه؟
ځواب: باد.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې خپله اوبه دی، خو دښمن يې هم اوبه دی؟
ځواب: يخ.
پوښتنه: هغه کومې دوه خويندې دي، چې په يو غره کې اوسېږي، خو د يو بل کور يې نه دی ليدلی؟
ځواب: سترگې.
پوښتنه: هغه کوم حيوان دی، که سر يې غوڅ کړې، د انسان د بدن بو غړی ترې جوړېږي؟
ځواب: خر کوش خر ترې لرې کړې، د غوږ مانا ورکوي.

پوښتنه: کوزه یې یو رنګ، اوبه یې دوه رنګه؟
ځواب: هګۍ.
پوښتنه: ښوونکی یوه پښه لري، یوه سترګه؟
ځواب: ستن.
پوښتنه: د ورځې ټوله ورځ ګرځي، د شپې یوه پولي اغزي، په ځان راواړوي؟
ځواب: سترګې.
پوښتنه: درې ورونه دي، یو بل پسې منډې وهي، هو یو بل پسې نه رسي؟
ځواب: پکي.
پوښتنه: یوه ونه ده، دولس ښاخونه لري، هر ښاخ یې دېرش پاڼې لري؟
ځواب: کال.
پوښتنه: یو خور او ورور دي، چې هرڅومره ځي بیا هم یو بل ته نه رسي؟
ځواب: لمر او سپوږمۍ.
پوښتنه: په پوزه کېنې غوږونه نه لري؟
ځواب: عینکې.
پوښتنه: هر بند کې یې خوند دی، دا څه شی دی؟
ځواب: ګنی.
پوښتنه: ټوله دنیا لیدلی شي، خو خپل ځان نه شي لیدلی؟
ځواب: سترګې.
پوښتنه: په سیند کې کومه تیږه نشته؟
ځواب: وچه تیږه.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې تیږه وړي، غوښه راوړي؟
ځواب: غولکه (لینده).
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې غاښونه لري، خو غوښه نه شي خوړلی؟
ځواب: اره.
پوښتنه: مغز لري، فکر نه شي کولی، سترګې لري، لیدل نه شي کولی، خوله لري ویل نه کولی؟
ځواب: ګوډی (اسکلیټ).

پوښتنه: غټه کلا ده، ۳۴ کوټې لري؟
ځواب: افغانستان او ۳۴ ولایتونه لري.
پوښتنه: د الله تعالی کوم، نوم د وجود نوم ورکوي؟
ځواب: الصور.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ودې کړو هم غم دی، که ودې نه کړو هم غم دی؟
ځواب: واده.
پوښتنه: هغه کومه خبره ده، چې پخوا به یو کال کې راځرخېدله، خو اوس هر ورځ راځرخي؟
ځواب: پیغور.
پوښتنه: هغه کوم هېواد دی، چې په لیکلو کې ترې د قلم څوکه نه جګېږي؟
ځواب: مصر.
پوښتنه: هغه کوم هېواد دی، چې سرچپه یې کړې د مور نوم ترې جوړېږي؟
ځواب: روم.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې راسته یې ووایې د خوړولو شی ترې جوړېږي، که سرچپه یې ووایې د اغوستلو شی ترې جوړېږي؟
ځواب: مرچ.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې بټې کې شنه کېږي او په کور کې سره کېږي؟
ځواب: نکریزي.
پوښتنه: هغه کوم هېواد چې د مرکز نوم یې د اونی یوې ورځې نوم دی؟
ځواب: دوشنبه.
پوښتنه: هغه کوم هېواد دی، چې نوم یې سرچپه کړې، بیا هم ترې د هماغه هېواد نوم جوړېږي؟
ځواب: لیبیا.
پوښتنه: هغه څه شی دی چې وزرې لري، خو لکه د مرغانو الوتل نه شي کولی؟
ځواب: چرګه.
پوښتنه: خوله لري انسان نه دی، خبرې کوي، خو غږ یې نه اورېدل کېږي؟
ځواب قلم.

پوښتنه: نه پښې شته، نه لاسونه په هوا وهې ټوپونه؟
ځواب: توپ.
پوښتنه: هغه کومه مېوه ده، چې زموږ د هېواد بيرغ رنګونه ترې جوړېږي؟
ځواب: هندوانه.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په غرور راځېږي او په غرور پټېږي؟
ځواب: لمر.
پوښتنه: هغه څه شی دی، هر څومره يې ماتوې نه ماتېږي؟
ځواب: اوبه.
پوښتنه: هغه کوم غسل دی، چې په هغې کې يو فرض دی؟
ځواب: د مړي غسل دی، چې يو فرض لري، هغه هم د مړي ټول بدن مينځل.
پوښتنه: تاريخ چې سرچپه کړې، څه ترې جوړېږي؟
ځواب: خيرات.
پوښتنه: د قرآن کريم کوم سورت دی، چې يوازې يو زېر لري؟
ځواب: سورت اخلاص.
پوښتنه: په دوشنبه کې د جمعې لمونځ کېږي؟
ځواب: هو، د تاجکستان مرکز دی.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سوری نه لري؟
ځواب: لمر.
پوښتنه: هغه کومه ونه ده، چې لرګی نه لري؟
ځواب: کيله.
پوښتنه: د افغانستان کوم ولايت دی، چې ټکی نه لري؟
ځواب: وردګ.
پوښتنه: د افغانستان د کوم ولايت نوم نه، چې يو توری لرې کړې، د الله تعالی نوم ترې جوړېږي؟
ځواب: د غزني نه، چې (ز) لرې کړې، غني ترې جوړېږي، چې دا د الله تعالی نوم دی.

پوښتنه: هغه کومه کلمه ده، چې په څلورو ژبو کې څا رو حرفه لري او په څلورو واړو ژبو کې یو شان مانا ورکوي؟

ځواب: هغه د مینې کلیمه ده، چې په پښتو کې مینه، په اردو کې پیار، په عربي کې محبت او په انګلیسي کې (love) ورته وایي.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې درې لوښاړې لري او دولس لیدونکي لري؟

ځواب: ساعت.

پوښتنه: هغه څه شی دی، اول نبات و، وروسته حیوان شو؟

ځواب: هغه د موسی علیه السلام امسا ده.

پوښتنه: هغه څه شی دی، راډیو یې هم لري او سیند یې هم لري؟

ځواب: موج یا څپه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې د نوم په اخیستلو سره ماتېږي؟

ځواب: چوپتیا.

پوښتنه: هغه څه شی دی، راسته یې ووایې زیاتېږي او که سرچپه یې کړې، کمېږي؟

ځواب: سل که سرچپه شي، لس ترې جوړېږي.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې پرته له لوګي اور کوي؟

ځواب: ګازي داش.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې څومره ترې مصرفوې، هغومره زیاتېږي؟

ځواب: علم.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې هم ترې انسان جوړ شوی دی او هم ترې لوښی؟

ځواب: خاوره.

پوښتنه: هغه کوم پیغمبر دی، چې د مېږي اواز یې اورېدلی؟

ځواب: حضرت سلیمان علیه السلام.

پوښتنه: هغه کوم لمونځ دی، چې وخت یې معلوم نه دی؟

ځواب: د جنازې لمونځ.

پوښتنه: زما او ستا ترمنځ څه شی دی؟

ځواب: د (او) کلمه ده.

پوښتنه: کومه بهېدونکې وينه پاکه ده؟
ځواب: د شهيد وينه.
پوښتنه: هغه کوم حيوان دی، چې د مرګ نه مخکې هم خوړلی شي او وروسته هم؟
ځواب: چرګه، چې په ژوندون يې هګۍ او په مړينه يې غوښه.
پوښتنه: هغه کوم لمونځ دی، چې قضايې نه لري؟
ځواب: د اختر او د جنازې لمونځ.
پوښتنه: هغه کومې دوې مېوې دي، چې له جنت څخه راوړل شوي دي؟
ځواب: انځر او خرما.
پوښتنه: هغه کوم حيوان دی، چې هډوکی يې د پاسه دي او غوښه يې د لاندې ده؟
ځواب: شمشتی.
پوښتنه: په عدل او انصاف کې، د عدل مانا څه ده؟
ځواب: انصاف.
پوښتنه: هغه کومه مرغۍ ده، چې اواز نه لري؟
ځواب: مړه مرغۍ.
پوښتنه: هغه مېوه ده چې نه په ونه کې شته او نه پرې روژه ماتېږي؟
ځواب: د صبر مېوه.
پوښتنه: سور دی، سندوخک دی، د سرو غميو ډک دی؟
ځواب: انار.
پوښتنه: دا څه شی دی، شپږ يې پونډۍ دي، لکۍ ملاکې لري، دوه يې دي پښې، ژوند په هوا لري؟
ځواب: تله.
پوښتنه: سر يې په غوايې کې دی، منځ يې په نارينه کې دی او بيخ يې په خمکه کې دی؟
ځواب: غنم.
پوښتنه: په پورته خې اسمان ته چارچاپېره ټول جهان ته؟
ځواب: د سترګو ديد.

پوښتنه: مړي له ژوندي کېږي او ژوندي له مړي؟

ځواب: هګۍ.

پوښتنه: توله ورځ ګرځي، چې شپې راشي، د يوې روپۍ ځای ونيسي؟

ځواب: امسا.

پوښتنه: دا څه شی دی، وچ کلک، د کولمو ډک دی؟

ځواب: کټ.

پوښتنه: هغه کومه مېوه ده، چې بې ګله کېږي؟

ځواب: انځر.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې څومره تېرېږي هماغومره کمېږي؟

ځواب: عمر.

پوښتنه: هغه کومه خزنده، چې د څلورو نه زياتې پښې لري؟

ځواب: ځنزه.

پوښتنه: هغه کوم نوم دی، چې يو توری ترې لرې کړې او سرچپه يې کړې چاپ ترې جوړېږي؟

ځواب: پاچا.

پوښتنه: کلکه ده، خو تيږه نه ده، څلور پښې لري، خو سپی نه دی، هګۍ اچوي، خو چرګه نه ده؟

ځواب: کيشپ (شمشتی).

پوښتنه: دا څه شی دی، خېټه لري، خو کولمې نه لري؟

ځواب: چاينک.

پوښتنه: وړوکی کلاګی ده، پکې ناسته طوطه ګی ده؟

ځواب: خوله او ژبه.

پوښتنه: د ننګرهار کومه ولسوالي ده، چې اغوستل کېږي؟

ځواب: کوټ.

پوښتنه: هغه کومه ولسوالي ده، چې سرچپه شي او د الف توری ترې لرې شي او د (و) توری پرې اضافه شي، نو د پوند کلمه ترې جوړېږي؟

ځواب: په غزني کې د اندړ په نوم ولسوالي ده.

پوښتنه: د افغانستان کې د کوم ولایت نوم دی، چې سرچپه یې کړې، د روغ کلمه ترې جوړیږي؟

ځواب: غور ولایت.

پوښتنه: ایا کله دی مړی، په ولاړه لیدلی دی؟

ځواب: هو مړی پروت وي او زه ورته ولاړ یم.

پوښتنه: هغه کوم اندامونه دي، چې په اودس کې شپږ خله مینځل کیږي؟

ځواب: لاسونه.

پوښتنه: په دنیا کې تر تولو لوی ښار کوم یو دی؟

ځواب: مکه معظمه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې شپه او ورځ یې خوري خو نه پرې مړیږي؟

ځواب: عمر چې مړښت پرې نشته.

پوښتنه: هغه کوم لمونځونه دی، چې په جحر اداکیږي، خو اذانونه ورته نه کیږي؟

ځواب: د اخترونو.

پوښتنه: د نبي کریم صلی الله علیه وسلم وروستی خبرې یا وینا کومه ده؟

ځواب: اللهم بالرفیق الاعلی.

پوښتنه: هغه کوم جامد شی دی، چې ژوندی موجود ترې پیدا شوی دی؟

ځواب: تیږه چې د صالح علیه السلام اوښه ترې پیداشوې ده.

پوښتنه: په دنیا کې هم شته، خو له جنته هم راوړل شوی دی؟

ځواب: د حجرالاسود تیږه.

پوښتنه: هغه کوم کس دی، چې انسان دی، خو بنیادم نه دی؟

ځواب: ادم علیه السلام.

پوښتنه: هغه کوم رنګ دی، چې هم د رنګ نوم دی هم مېوه ده؟

ځواب: نارنجي رنګ.

پوښتنه: هغه کوم لمونځ دی، چې په خپل وخت کول یې ګنا ده؟

ځواب: په مزدلفه کې د حاجیانو لپاره د ماښام لمونځ دی، باید د ماسخوتن له لمانځه سره یو ځای وشي.

پوښتنه: هغه کوم جومات دی، چې یو ملا او دوه دیرش یې مقتدیان دي؟
ځواب: ژبه او غاښونه.
پوښتنه: دا څه شی دی، چې ژاړي، خو سترګې نه لري؟
ځواب: وریځ.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې هر څه ته رسېږي؟
ځواب: نوم.
پوښتنه: هغه څوک دی، چې دوست او دښمن ته په یوه سترګه ګوري؟
ځواب: هغه په یوه سترګه ړوند دی.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په یوه مړي، سل کمبلې پرتې دي؟
ځواب: پیاز.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې الله تعالی یې نه ګوري او موږ یې ګورو؟
ځواب: خوب.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې الله تعالی روا کړی دی، خو بد یې ګڼي؟
ځواب: طلاق.
پوښتنه: هغه کوم جومات دی، چې محراب نه لري؟
ځواب: کعبه شریفه .
پوښتنه: هغه کوم انسان دی، چې نجس دی؟
ځواب: دا مړ کافر دی.
پوښتنه: په دیوال باندې چرګ ولاړ دی، یو خوا اور دی او بل خوا اوبه دي، هګ
به چېرته اچوي؟
ځواب: چرګ هګۍ نه اچوي.
پوښتنه: داسې انسان راته په دنیا کې وښایه، چې د هر چا سر ورته ټیټ وي؟
ځواب: نایې سلماني.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې څومره یې ویشي، هغومره زیاتېږي؟
ځواب: علم.
پوښتنه: زما خور چې د چا لور ده، هغه زما پلار نه دی؟
ځواب: هغه مې مور ده.

پوښتنه: هغه کوم ځای دی، چې انسان ته په کې خوب نه ورځي؟

ځواب: جنت.

پوښتنه: اول یې نه اخلي چې وایې خلې، بیا یې نه اغوندي، چې وایې غوندي، بیا یې نه وباسي؟

ځواب: کفن.

پوښتنه: د اوسپنې کوټه ده، د مخ لیدو اله ده او په منځ کې یې نشه ده؟

ځواب: د نصوارو قوتی.

پوښتنه: د افغانستان کوم ولایت دی، چې په لیکلو کې تکي نه غواړي؟

ځواب: وردګ.

پوښتنه: که د جنازې په لمونځ کې په سجده کې دی، تندی وینې شي، څه به کوي؟

ځواب: د جنازې په لمونځ کې سجده نشته.

پوښتنه: داخلاص سورت شپږم ایات وژباړه؟

ځواب: د اخلاص سورت شپږم ایات نه لري.

پوښتنه: ناک چې سرچپه شي، د روداتو ولسوالۍ د کومې قریې نوم ترې جوړیږي؟

ځواب: کان.

پوښتنه: هغه کوم کس دی، چې د موزو سره یې مسح نه ده روا؟

ځواب: هغه کس چې په غسل کې وي.

پوښتنه: د افغانستان په تاریخ کې دویم مدنیت کوم مدنیت دی؟

ځواب: د اوستایې مدنیت.

پوښتنه: د بصرې ښار د اسلام د کوم خلیفه په وخت کې جوړ شو؟

ځواب: حضرت عمرفاروق رضی الله عنه.

پوښتنه: د چا په هڅو په هند کې اسلام پراخه شو؟

ځواب: د افغانانو.

پوښتنه: افغانانو څو کاله په هند خکومت وکړو؟

ځواب: یوه پیړی.

پوښتنه: لومړی افغان چې په هند یې حکمراني کړې، څه نومیده؟
ځواب: بهلول لودي.
پوښتنه: مغولیانو څو کاله په روسیه کې حکومت وکړ؟
ځواب: ۲۵۰ کاله.
پوښتنه: صلیبي جنگونه چا پیل کړه؟
ځواب: نصرانیانو.
پوښتنه: د صلیبي جنگونو شمېر څومره و؟
ځواب: نهه.
پوښتنه: صلیبي جنگونه د چا په گټه ورسېدل؟
ځواب: د مسلمانانو.
پوښتنه: د افغانستان کوم ښار د هند د دروازې په نوم یادېږي؟
ځواب: کندهار.
پوښتنه: د احمد شاه بابا د سلطنت پر وخت د هېواد نظامي ځواکونه په څو ډولو ویشل شوي وو؟
ځواب: په دوه ډوله په منظم او قومي ځواکونو.
پوښتنه: د افغانستان کوم پادشاه د دري ژبې شاعر و؟
ځواب: تیمورشاه.
پوښتنه: د لغمان قلعه السراج بڼ د چا حکومت په مهال کې جوړ شوي؟
ځواب: امیر حبیب الله خان.
پوښتنه: د چین رسمي ژبه کومه ده؟
ځواب: ماندرین.
پوښتنه: د مساحت له مخې دریم پراخ هېواد کوم یو دی؟
ځواب: چین.
پوښتنه: هریوا د کوم ولایت پخوانی نوم دی؟
ځواب: هرات.
پوښتنه: بلحیکه د کوم ولایت پخوانی نوم دی؟
ځواب: بلخ.

پوښتنه: د کوشانیانو پایتخت کوم ښار و؟

ځواب: بگرام.

پوښتنه: د بدر غزا په کوم کال کې پېښه شوه؟

ځواب: د روژې په اولسمه.

پوښتنه: عمر ثاني د کوم خلیفه لقب و؟

ځواب: عمربن عبدالعزیز رح.

پوښتنه: د بیت الشرف موزیم د کوم پاچا او چېرته جوړ شو؟

ځواب: د احمدشاه بابا په وخت کې په کندهار کې.

پوښتنه: احمد شاه بابا په څو کلنۍ کې وفات شو؟

ځواب: ۵۰ کلنۍ کې.

پوښتنه: تیمور شاه د احمدشاه بابا په وخت کې څه دنده لرله؟

ځواب: د هرات والي و.

پوښتنه: د مثلث تړون د چا ترمنځ امضا شو؟

ځواب: رنجیت سینگ شاه شجاع او د انگلس نماینده میکناټن.

پوښتنه: د افغانستان د نوي تمدن بنسټگر څوک وو؟

ځواب: امیر شېر علي خان.

پوښتنه: د نورستان خلک د کوم پاچا په وخت کې په اسلام مشرف شول؟

ځواب: امیرعبدالرحمن خان په وخت کې.

پوښتنه: د ډیورنډ تړون د کوم پاچا په وخت کې امضا شو؟

ځواب: عبدالرحمن خان.

پوښتنه: د کابل تړون څومره وخت دوام وکړ؟

ځواب: تقریبا دولس میاشتې.

پوښتنه: لومړی اساسي قانون د کوم پاچا په وخت کې تصویب او توشیح شو؟

ځواب: د غازي امان الله خان په وخت کې.

پوښتنه: د ظاهرشاه د واکمنۍ وروستۍ لسیزه په څه نوم یادېږي؟

ځواب: د دیموکراسۍ یا مشروطه شاهي.

پوښتنه: لومړی نړیوالې جګړې څو کاله دوام وکړ؟

ځواب: څلور کاله.

پوښتنه: دولف هټلر په کوم کال او چېرته نړۍ ته سترګې پرانیستې وې؟

ځواب: اتلس سوه نهه اتیا کې په اتریش کې.

پوښتنه: (دور و مرجان) د کوم پښتون شاعر دیوان دی؟

ځواب: د عبدالحمید مومند.

پوښتنه: د پښتو غزل د بیتونو شمېر څومره دی؟

خواب: له پنځو نه تر پنځلسو پورې.

پوښتنه: تازو انا د هېواد د کوم ملي مشر مور وه؟

ځواب: د میرویس نیکه.

پوښتنه: پټه خزانه د پښتو لرغونی کتاب په کوم کال کې او د چا لخوا لیکل شوي؟

ځواب: محمد هوتک په دولسمه هـ ق. پېړۍ کې.

پوښتنه: تذالاولیا دچا اثردی؟

ځواب: د سلیمان ماکو.

پوښتنه: د پښتو نثر لومړنی کتاب کوم دی او چا لیکلی دی؟

ځواب: د (سالو وږمه) او هاشم سرواني.

پوښتنه: د بدیع علم وضع کوونکی څوک و؟

ځواب: عبدالله بن معتز.

پوښتنه: په افغانستان کې لومړۍ لنډه کیسه چا ولیکله؟

ځواب: پوهاند عبدالحی حبیبي.

پوښتنه: خیرالبیان د چا اثر دی؟

ځواب: د بایزید روښان.

پوښتنه: د پښتو ژبې اته اصلي توري د چا لخوا راوتي؟

ځواب: د بایزید روښان.

پوښتنه: لنډه کیسه د کوم عصر زېږېدنه ده؟

ځواب: د اوسني پرمختللي عصر.

پوښتنه: امیر حمزه بابا ته کوم لقب ورکړل شوی؟

ځواب: د پښتو غزل بابا.

پوښتنه: په پښتو کې لومړی ناول چا لیکلی؟

ځواب: سید راحت زاخیلی ۱۹۱۰ کې.

پوښتنه: د اسیا ستر نفوس کوم رنګ خلک تشکیلوي؟

ځواب: زیړ.

پوښتنه: په اسیا کې د اسلامي هېوادونو شمېر څومره دی؟

ځواب: ۲۷.

پوښتنه: د افغانستان نفوس په کوم کال کې ۲۶میلونه وښودل شو؟

ځواب: ۲۰۰۹ کې.

پوښتنه: دکابل ښار نفوس څومره دی؟

ځواب: څلور نیم څخه تر پنځه میلیونه پورې.

پوښتنه: د زلزلې د موجونو حرکت مسیر څو دوله دی؟

ځواب: ۳ دوله دی.

پوښتنه: په هند کې د غزنویانو درباري ژبه څه وه؟

ځواب: دري.

پوښتنه: کومه سیاره تقریبا د ځمکې په اندازه ده؟

ځواب: زهره.

پوښتنه: زحل سیاره لرونکی، د کوم رنګ ده؟

ځواب: زیړ.

پوښتنه: د ځمکې څو فیصده برخه تشکیلوي؟

ځواب: ۲۹ فیصده.

پوښتنه: د نیل سیند چېرته موقعیت لري؟

ځواب: افریقا کې.

پوښتنه: هغه کوم لفظ دی، چې ښه صحیح یې ولیکي، بیا هم خلک ورته غلت ویل کېږي؟

ځواب: د غلت لفظ دی.

پوښتنه: يوه ښځه او يو هلك په لاره روان دی، له ښځې چا پوښتنه وکړه، چې دا
دې څه کېږي؟
دې ورته وويل: ددې هلك ماما زما ماما ته ماما وايي، نو هلك د ښځې څه کېږي؟
ځواب: مور او زوی.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې خومره یې کش کوي، هغومره لنډېږي؟
ځواب: سګرټ.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې نوم یې واخلې ماتېږي؟
ځواب: چوپتیا.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې اول نبات و، بیا وروسته حیوان شو؟
ځواب: د موسی علیه السلام امسا.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ملکیت ستا دی، مګر ستا څخه یې دوستان زیات
استعمالوي؟
ځواب: نوم دی.
پوښتنه: څو دانې کټونه دي او څو دانې خلك دي، که چېرې په هر کټ کې یو
کس کېني، نو یو کس اضافه کېږي. او که په هر کټ کې دوه کسه کېني یو کټ
اضافه کېږي؟
ځواب: درې کټونه دي او څلور کسان دي.
پوښتنه: هغه کوم هېواد دی، چې د پایتخت نوم یې معکوس شي، د مور کلمه ترې
جوړېږي؟
ځواب: ایټالیا پایتخت روم.
پوښتنه: د ښوونځي کوم مضمون دی، چې وروستی (ی) توری ترې لرې کړي،
یو هېواد د پلازمېنې نوم ترې جوړېږي؟
ځواب: رياضي.
پوښتنه: د اختر لمانځه لپاره د اقامت حکم فرض واجب دی او که سنت دی؟
ځواب: د اختر لمونځ اقامت نه لري.
ځواب: د یوه افریقایي نوی زېږېدلی ماشوم د غاښونو رنګ تور وي، که سپین؟
ځواب: ماشوم غاښونه نه لري.

پوښتنه: په دیوال یو عکس راځړېدلی دی، یو هلک وایې دا هلک زما د پلار زوی دی، خو زما ورور نه دی، دا هلک یې څه کېږي؟
ځواب: خور.
پوښتنه: هغه کوم ګل دی، چې خلک یې نه بویوي، خو حوري یې؟
ځواب: ګلپي.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په دنیا کې موجود دی، خو په مخلوق کې نه؟
ځواب: قرآن کریم.
پوښتنه: د کومې مېوې لومړنی جمله ترې لرې کړي، ترڅو د ښکار وسیله په لاس راشي؟
ځواب: بادام.
پوښتنه: د زوی د ماما مور د زوی د پلار څه کېږي؟
ځواب: خواښې.
پوښتنه: د افغانستان د کوم ولایت نوم، چې سرچپه کړي، د رنځور کلمې ضد مانا ورکوي؟
ځواب: غور (روغ).
پوښتنه: په یو ځای کې او ولګېده، چې په دې ځای کې یو جومات یو کور دی او یو روغتون دی، که امبولانس راشي، نو د کوم به اول اور مړ کوي؟
ځواب: امبولانس اور نه شي مړ کولی.
پوښتنه: یو کس ستا د کاکا ورور دی، خو ستا کاکا نه دی، ستا څه کېږي؟
ځواب: پلار.
پوښتنه: هغه کوم ډول خواړه دي، چې خرڅول یې ناروا دي، خو خوړل یې روا دي؟
ځواب: د قرباني غوښه.
پوښتنه: هغه کوم مېوه دی، چې مختلفې برخې یې سره یو ځای کړي، د افغانستان بیرغ ترې جوړېږي؟
ځواب: هندوانه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، په ثانیه او دقیقه کې پیداکېږي، خو په ساعت کې نه؟
ځواب: د (ه) توری.
پوښتنه: احمد څو کلن دی، که څلور کاله مخکې يې عمر د څلور کالو د وروسته عمر دوه چنده شي؟
ځواب: شپاړس کاله.
پوښتنه: د افغانستان کومه ولسوالي ده، چې د دوو ځناورو نومونه په کې راغلي دي؟
ځواب: اسمار (اس او مار).
پوښتنه: د اسلام له پينځو بناوو څخه کومه يوه يې ټکی نه لري؟
ځواب: کلمه طيبه.
پوښتنه: يو کيلو اوسپنه درنه ده، که يو کيلو مالوچ؟
ځواب: د دواړو وزن يو شی دی.
پوښتنه: د کال څيني مياشتې يو ديرش ورځې لري، څيني يې ديرش ورځې لري، د کال څو مياشتې ۲۹ورځې لري؟
ځواب: يوه حوت.
پوښتنه: که په دري کې د يو رنګ اخر حرف لرې شي د طلا مانا ورکوي؟
ځواب: زرد چې (د) توری ترې لرې کړې. (زر) پاتې کېږي.
پوښتنه: هغه کوم خنزير دی، چې پاک دی يانې نجس نه دی؟
ځواب: د درياب خنزير دی.
پوښتنه: هغه کوم عمل دی، چې د هغې په کولو سره لمونځ نه ماتېږي؟
ځواب: کله چې په لمانځه ولاړ يې مار يا لړم يا بل شی دی. له مخې تيرېږي وېې وژنې.
پوښتنه: هغه کوم کس دی، چې د هغه نه صرف يو لمونځ قضا شوی وي، خو دی به ۵ وخته لمونځ راګرځوي؟
ځواب: کله چې درنه لمونځ قضا شوی وي او د وخت پته درته نه وي. چې کوم لمونځ و، نو پينځه وخته لمونځ به قضايي راګرځوې.
پوښتنه: هغه کوم لمونځ دی، چې په جومات کې مکروه دی؟
ځواب: د جنازې لمونځ.

پوښتنه: هغه کوم لمونځ کوونکی دی، چې د هغه لپاره د قرآن کریم تلاوت مکروه دی؟

ځواب: د مقتدي لپاره.

پوښتنه: هغه کوم غني او مالداره کس دی، چې ده هغه لپاره زکات اخیستل روا دی؟

ځواب: چې مسافر وي او د پیسو ضرورت ولري.

پوښتنه: هغه کوم سورت دی، چې په هغې کې سلو نه زیات ایاتونه دي، خو د جنت او دوزخ ذکر په کې نشته؟

ځواب: سورت یوسف.

پوښتنه: سورت فاتحه په کومې سپاره کې دی؟

ځواب: په یوې کې هم نه دی. ځکه د یوې مقدمې په توګه دی.

پوښتنه: هغه کوم جومات دی، چې ځینې وخت د جومات حکم نه لري؟

ځواب: عیدګاه.

پوښتنه: هغه کوم کس دی، چې د هغې خولې اوبه ناولې دي؟

ځواب: د مږي.

پوښتنه: په دنیاکې ترټولو نه زیات ښکلی شی، څه شی دی؟

ځواب: انسان.

پوښتنه: عبدالله بن عمر رضی الله عنه د چا زوی دی؟

ځواب: حضرت عمر رضی الله عنه.

پوښتنه: هغه کوم ماهي دی، چې خپلو بچو ته شیده ورکوي؟

ځواب: وهیل ماهي.

پوښتنه: چې لس ګزه لرګی وي او ورځ کې یو یو ګز لرګی پرې کوي، نو په څو ورځو کې پرې کړې؟

ځواب: په ۹ نهو ورځو کې.

پوښتنه: هغه کوم هېوادونه دي، چې که په لمونځ کې یې نوم واخلې، نو لمونځ پرې نه ماتېږي؟

ځواب: بحرین، اسرایل، روم او مصر، ځکه دا نومونه په قرآن کریم کې راغلي دي، یانې که دا ایتونه ولولې، نو په قرآن کریم لوستلو سره خو لمونځ نه ماتېږي او که همداسې واخیستل شي، بیا ماتېږي.

پوښتنه: لاندې توري داسې ترتيب کړئ، چې صرف يو لفظ ترې جوړ شي ( ف. ص. ر. و. ي. ظ. ل. ف.)؟
ځواب: صرف يو لفظ.
پوښتنه: هغه کوم شی دی، چې په دنياکې دی، خو د جنت دی؟
ځواب: د حجرالاسود تيږه ده.
پوښتنه: هغه کومه ځمکه ده، چې په هغې باندې صرف يو ځل لمر لګيدلی دی؟
ځواب: دا د بحر قلزم دی، چې د موسی عليه السلام پرې پورې وتلو او د فرعون د غرقيدلو لپاره اوبه اخوا دې خوا شوې.
پوښتنه: هغه کومه ښځه ده، چې هغې ته الله تعالی وحې کړې ده؟
ځواب: د حضرت موسی عليه السلام مور وه.
پوښتنه: هغه کوم پيغمبر دی، چې د ماهي په خېټه کې يې ژوند کړی دی؟
ځواب: حضرت يو نس عليه السلام.
پوښتنه: هغه کوم (۵) شيان دي، چې په ځمکه ګرځيدلي، خو نه چا زيږولی او نه د چا د ښځې نه راوتي؟
ځواب:
اول: حضرت ادم عليه السلام.
دويم: حضرت حوا رضی الله عنها.
دريم: د حضرت صالح عليه السلام اوښه.
څلورم: د حضرت موسی عليه السلام امسا.
پينځم: د حضرت اسماعيل عليه السلام ګډ (پسه).
پوښتنه: دوه کسانو وو، يو نه چا پوښتنه وکړه، چې دا بل دې څه کيږي؟
هغه ورته ووېل: چې دا زما ځيل حقيقي ورور دی.
بيا يې دې بل نه پوښتنه وکړه، چې دا ستا څه کيږي؟
ده ورته ووېل: دا مې ورور نه دی.
دوی سره څه دی؟
ځواب: دا يې خور وه.

پوښتنه: هغه کوم پیغبران دي، چې نومونه يې د پیدایش نه مخکې ایښودل شوي وو!

ځواب: هغه (۵) دی.

اول: حضرت محمد صلی الله علیه وسلم.

دویم: حضرت یحی علیه السلام.

دریم: حضرت عیسی علیه السلام.

څلورم: حضرت اسحاق علیه السلام.

پینځم: حضرت یعقوب علیه السلام.

پوښتنه: هغه کوم صحابي دی، چې د تابعي، په لاس مسلمان شوی دی!

ځواب: حضرت عمروبن العاص رضی الله عنه.

پوښتنه: هغه کوم کس دی، چې د ږیرې ویستل ورته روا دی!

ځواب: ښځې ته.

پوښتنه: په کوم وخت کې د بسم الله ویلو باندې سړی کافر کېږي!

ځواب: د یو حرام کار کولو په وخت کې لکه زنا غلا کول او شراب څکل.

پوښتنه: ته درځه، زه درځم، هیڅ غم دی نه لرم!

ځواب: دروازه.

پوښتنه: دا به څه وي: زما یو ورور دی، په دوه دیوالونو سپور دی!

ځواب: ریل ګاډی یا اور ګاډی.

پوښتنه: دا به څه وي، نه يې کري، نه يې رېبي، خرې څنې اړوي!

ځواب: ژرنده.

پوښتنه: دابه څه وي، توله ورځ وګرځي چې شپې راشي، خوله وازه ونیسي!

ځواب: بوټ.

پوښتنه: دابه څه وي: لاندې ترې کیښتي ده، دپاسه پرې دریاب!

ځواب: روېل او قرآن کریم.

پوښتنه: دا به څه وي: راوادې خلم، کېدې پړدم او ودې پرووم!

ځواب: د چلم څکول.

پوښتنه: دوه سکه ورونه چې له سفره راشي، پينځه سک[illegible]ندې يې ستړي مشي نه ورځي، دا څه دي؟

ځواب: پوزه او لاسونه.

پوښتنه: په شونډو کې موسکا کوي، په زړه کې د سرو وينو ډک دی؟

ځواب: انار.

پوښتنه: دا به څه وي، سپين پالنګ غوړېدلی دی، خو څوک پرې خوب نه شي کولی؟

ځواب: درياب.

پوښتنه: دابه څه وي: زما ليلا په خندا ځي، په ژړا راځي؟

ځواب: د اوبو بوکه.

پوښتنه: دابه څه وي: په لاسو تړل کېږي، په خوله ويل کېږي، د سر په ګرځولو خلاصېږي؟

ځواب: لمونځ.

پوښتنه: هغه څه دي، چې مړی په ژوندی پسې روان دی؟

ځواب: انسان يا حيوان او د هغه سوری.

پوښتنه: پېغله انجلی ولاړه، دنګه يې غاړه په غېږ کې نيولې ملاله؟

ځواب: جوار او وږی.

پوښتنه: د ټولې دنيا پرستن څه شی دی؟

ځواب: شپه ده.

پوښتنه: دا به څه وي، زر غشي يې خوړلي، خو لاتر اوسه ژوندی دی؟

ځواب: شکوڼ.

پوښتنه: د هډوکو کوټنی ده، پکې ناسته لېونی ده؟

ځواب: ژبه او غاښونه.

پوښتنه: په چاقو پرې کېږي نه، په تبرګي غوځېږي نه او په اوبو کې ډوبېږي نه؟

ځواب: سوری.

پوښتنه: د ورځې وي، د شپې نه؟

ځواب: لمر.

پوښتنه: تښه ځي، ږکه راځي!

ځواب: د اوبو بوکه.

پوښتنه: په يوه ونه کې شل مرغۍ ناستې دي، يو ښکاري پرې ډز وکړو، درې دانې يې ترې وويشتې پاتې څو شوې!

ځواب: يوه هم نه، نورې والوتلې.

پوښتنه: څلورويشت ساعته ګرځي، هيڅ دمه نه کوي!

ځواب: ساعت.

پوښتنه: هغه کومه روژه ده، چې ماته يې کړې بيا هم ورباندې قضا لازمه نه ده!

ځواب: د ايام تشريق روژه.

پوښتنه: هم مې زوی دی، هم مې ورور دی، دا څنګه!

ځواب: زوی ځکه دی، چې له ما نه پيدا شوی دی او ورور ځکه دی، چې ما او ديته يوې ښځې شيدې راکړې دي.

پوښتنه: هم مې د ماما زوی دی، هم مې ورور دی، دا څنګه!

ځواب: د ماما زوی حقيقي دی او ورور مې ځکه دی، چې مور مې ورته شيدې ورکړې دي.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په هره لاره تللی شي، په غره هم ختلی شي، خو په لږو اوبو نه شي تلای؟

ځواب: مېږی.

پوښتنه: يوه پاچا ته درې کسان ورغله.

يو ورته ووېل: لور دې راکړه.

بل ورته ووېل: ږيره دې کمومه.

دريم ورته ووېل: باغ کې دې ونه وهم.

نو پاچا دغه درې واړو ته کومه داسې خبره وکړي، چې د درې واړو ته پوښتنو ته ځواب شي!

ځواب: وړه ده.

پوښتنه: هغه کوم پيغمبر دی، چې واده يې نه دی کړی!

ځواب: عيسی عليه السلام.

پوښتنه: د افغانستان کوم پاچا په نوم او لقب کې ۸ خلې د (م) توری راغلی؟
ځواب: د (اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد).
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې تور وي پاک وي، چې سپين وي خيرن شي؟
ځواب: د ليکلو توره تخته.
پوښتنه: هغه کومه ژبه ده، چې زياتره انسان پرې پوهېږي؟
ځواب: ترافيکي نښې يا اشاروي ژبه.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې د شيشې نه اخوا وځي، خو ماتېږي نه؟
ځواب: رڼا.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې د زېبېلو نه وروسته نه خرڅېږي؟
ځواب: لېمو.
پوښتنه: د کوم رنګ معکوس، نه د يو هېواد نوم جوړېږي؟
ځواب: سور.
پوښتنه: د افغانستان د مشرقي ولايتونو د کومې ولسوالۍ د نوم يوه برخه، د يو ډول مرض نوم دی؟
ځواب: پېچ دره (پيچ).
پوښتنه: هغه کومه سبزي ده، چې منځ يې سپين، خو رنګ يې تور دی؟
ځواب: توربانجان.
پوښتنه: هغه کوم اذان دی، چې د لمونځ لپاره نه کېږي؟
ځواب: د ماشوم په غوږ کې.
پوښتنه: نه ستا ورور دی، نه ستا خوره ده؟
ځواب: ته خپله يې.
پوښتنه: د انسان په بدن کې هغه کوم غړی دی، چې غوښه نه لري؟
ځواب: غاښونه.
پوښتنه: هغه څه شی دی، شنې يې جامې دي، سره يې برېتونه او ډېر لري غاښونه؟
ځواب: د جوارو وږی.
پوښتنه: د هندوانو هديره د هند په کوم ښار کې ده؟
ځواب: هندوان هديره نه لري، هغوی مړی سوزوي.

پوښتنه: کچره په کال کې څو بچي زېږوي؟
ځواب: کچره بچي نه زېږوي.
پوښتنه: هغه څه شی دی، موږ له يو ځای نه بل ځای ته رسوي، خو خپله حرکت نه شي کولی؟
ځواب: لاره.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سوري لري، خو بیا هم اوبه ساتي؟
ځواب: اسفنج.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې د استعمالولو په وخت کې غورځول کېږي؟
ځواب: د ماهيانو جال.
پوښتنه: د اوبو هغه کوم څاڅکی دی، چې نه له اسمانه ورېدلی او نه له ځمکې راوتلی؟
ځواب: اوښکې.
پوښتنه: هغه څه شی دی، غاښونه لري، خو خوراک پرې نه شي کولی؟
ځواب: ږمنځه.
پوښتنه: هغه څه شی دی، زيات بار وړلی شي، خو ستن نه شي وړلی؟
ځواب: درياب.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې غريب او مالداره يې دواړه لري؟
ځواب: نوم.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې انسان هر څومره مزل وکړي، چې اخر ته يې ځان ورسوي، خو بيا هم نه رسي؟
ځواب: سيوری.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې هر څومره مزل وکړي، نه ستړی کېږي؟
ځواب: سيند.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ترڅو يې سر ونه ټکوې، کار نه کوي؟
ځواب: ميخ.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې څومره يې وهې هغومره غټېږي؟
ځواب: کوهی.

پوښتنه: د اسلم مور درې خامن لري، د یو نوم سلام، د بل سلیم او د دریم زوی یې، څه نوم دی؟

ځواب: اسلم.

پوښتنه: هغه کوم صحابي دی، چې نوم یې په قران کې ذکر شوی دی؟

ځواب: حضرت زید رضی الله عنه.

پوښتنه: هغه چې پلرونه یې شته مره کېږي او چې پلار یې نشته، ژوندی دی، دا څوک دی؟

ځواب: عیسی علیه السلام دی. ځکه هغه بې پلاره پیدا شوی او الله تعالی اسمان ته پورته کړی دی او تراوسه ژوندی دی.

پوښتنه: ماهي په یو ځل څومره هګۍ اچوي؟

ځواب: ماهي هګۍ نه اچوي؛ بلکې بچی زېږوي.

پوښتنه: هغه کوم توري دي، چې له هرې خوا ولوستل شي، یو شان تلفظ کېږي؟

ځواب: واو، میم، نون.

پوښتنه: یوه ښځه ده، ستا د ترور خور ده، خو ستا ترور نه ده؟

ځواب: مور دې ده.

پوښتنه: هغه کوم کار دی، چې له لومړی ګام نه وروسته به یې خامخا کوې؟

ځواب: دویم ګام.

پوښتنه: هغه کوم حیوان دی، چې نه هګۍ اچوي نه لنګون کوي؟

ځواب: نر حیوان.

پوښتنه: لومړنی حیوان چې د انسان په لاس اهلي شو، څه نومېږي؟

ځواب: پسه (ګډ).

پوښتنه: هغه کوم افغان و، چې په شپږو ورځو کې به یې یوه ژبه زده کوله؟

ځواب: سید جمال الدین افغان.

پوښتنه: د انسان په بدن کې هغه کوم هډوکی دی، چې خوځښت نه لري؟

ځواب: د جمجمې هډوکی.

پوښتنه: د مسلمان انسان په تن کې لومړی ګوهر څه شی دی؟

ځواب: ایمان.

پوښتنه: د امریکا بیرغ څو ستوري لري؟
ځواب: پنځوس.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې نه هرڅومره غټېږي، هغه وړوکی کېږي؟
ځواب: د انسان جامې.
پوښتنه: هغه کوم مضمون دی، چې سرچپه یې کړې، خیرات کلمه ترې جوړېږي؟
ځواب: تاریخ.
پوښتنه: هغه د کومې مېوې نوم دی، چې د دوه ځایونو نومونه پکې دي؟
ځواب: هندوانه، چې هند یو هېواد دی او وانه په پېښور کې د یو ځای نوم دی.
پوښتنه: له یکشنبې نه دوه ورځې مخکې او درې ورځې وروسته کومه ورځ ده؟
ځواب: پنجشنبه
پوښتنه: درې ورونه دي، یو بل پسې منډې وهي، خو یو بل نه شي نیولی!
ځواب: پکې او درې پرې یې.
پوښتنه: دا څه شی دی، چې سپینه وي تروشه وي، چې توره وي خوږه وي!
ځواب: گوره.
پوښتنه: یو قبر سل مړي لري؟
ځواب: د اور قوتی.
پوښتنه: په پوزه کېني، غوږونه ونیسي!
ځواب: عینکې.
پوښتنه: هغه کوم هېواد دی، چې نوم یې په خپلوی دلالت کوي؟
ځواب: عمان مانا دوه ترونه.
پوښتنه: هغه کوم حیوان دی، چې نسبت یې نور بدن ته یې دماغ لوی دي؟
ځواب: مېږي.
پوښتنه: هغه کوم پیغمبر و، چې درې ورځې یې له خبرو روژه نیولې وه؟
ځواب: ذکریا علیه السلام.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې غوښه دباندې او پوستکی یې دننه دی؟
ځواب: شاتینگه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، ویښتان یې د لاندې او غوښه دباندې؟
ځواب: پوزه.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې زه ورنه ځم، دی رانه پاتې کېږي؟
ځواب: پل.
پوښتنه: هغه څوک دی، چې ته یې ګورې خو تانه ګوري؟
ځواب: ړوند.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې پنځه ګلونه دي، دوه په لمر کې دي، درې په سوري کې دي؟
ځواب: پنځه وخته لمونځونه.
پوښتنه: هغه کوم حیوان دی، چې هم بچو ته شیدې ورکوي، هم هګۍ اچوي؟
ځواب: شتر مرغ.
پوښتنه: هغه کوم ځای دی، چې له خاورو نه یې اور راوزي؟
ځواب: د اتشفشان غرونه.
پوښتنه: عیسی علیه السلام په څوم میلادي کال کې وفات شوی دی؟
ځواب: عیسی علیه السلام نه دی وفات شوی.
پوښتنه: د سلام د ښځې ورور د سلیم ماما دی، سلام او سلیم سره څه کېږي؟
ځواب: زوی او پلار.
پوښتنه: په نړۍ کې د کوم کار دعوت کولو ته، خلک ډېر دعوت کېږي؟
ځواب: لمونځ ته.
پوښتنه: هغه کوم صحابي و، چې په لومړي ځل یې په کعبه شریفه کې په لوړ اواز کلیمه وویله؟
ځواب: ابوزر غفاري رضی الله عنه.
پوښتنه: هغه کوم حیوان دی، چې سترګې نه لري؟
ځواب: ګنګ، ګربته.
پوښتنه: مار څو غوږونه لري؟
ځواب: مار غوږونه نه لري.

پوښتنه: هغه کومه مېوه ده، چې پوستکی نه لري!

ځواب: توت.

پوښتنه: په حیواناتو کې کوم حیوان دی، چې د سترګو دید یا نظر یې تېز دی!

ځواب: د اس.

پوښتنه: هغه څه شی دی، کره یې مور ده، شنه یې لور ده او سپین یې زوی دی!

ځواب: انګور.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې لین نه لري، خو برق دی!

ځواب: لاسی څراغ.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په غرو راخېژي او په غرو تېږي!

ځواب: لمر.

پوښتنه: هغه څه شی دی، څومره یې ماتوې، نه ماتېږي!

ځواب: اوبه.

پوښتنه: د جمیل کلیمې د اول او وروستي توري ترمنځ څومره فاصله ده!

ځواب: میل.

پوښتنه: کره وره، په لاره خته، خاتګه یې ترخه، مېوه یې خوږه!

ځواب: د شاتو مچی.

پوښتنه: په دریو کې یو دول سلات دی، که چېرې لومړی توری ترې لرې شي، د یو حیوان نوم ترې جوړېږي!

ځواب: کاهو چې (ک) ترې لرې کړې، اهو پاتې کېږي

پوښتنه: ستاسې په کور کې د یو کس لقب دی، که چېرې سرچپه شي، نو د یوه اروپايي هېواد پلازمینې نوم ترې جوړېږي!

ځواب: مور چې سرچپه شي، د ایتالیا مرکز روم ترې جوړېږي.

پوښتنه: هغه کوم زخم دی، چې وینه ترې نه بهېږي!

ځواب: احساس او شعور زخم.

پوښتنه: عثمان رضی الله عنه د لور نه وروسته څووم هجرت کوونکی دی!

ځواب: لومړی.

پوښتنه: هغه کومه ډله ده، چې د حق ګواهي یې ورکړې ده، خو بیا هم دروغجن بلل کېږي؟

ځواب: منافقان دي.

پوښتنه: د هجري شمسي د کومې میاشتې نه اول حروف لرې کړې، بیایې سرچپه کړې چې د برق مانا ورکوي؟

ځواب: عقرب چې ع ترې لرې کړې او سرچپه یې کړې، برق ترې جوړېږي.

پوښتنه: مړ راپاڅېږي، ژوندی نیسي؟

ځواب: تلک.

پوښتنه: د انسان په بدن کې کمزوری هډوکی کوم یو دی؟

ځواب: د پوزې.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په خاوره کې نشته؟

ځواب: کبر.

پوښتنه: دا څه شی دی، چې اوړی شي جامې اغوندي او چې ژمی شي جامې اوباسي؟

ځواب: د توت ونه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په جنت کې نشته؟

ځواب: مرګ، حسد، نجاست، بوداوالی.

پوښتنه: یو کس یو کتاب ۲۰ افغانی اخلي او په لس افغانۍ یې خرخوي، یو کال وروسته سړی میلونر کېږي، دا څنګه؟

ځواب: یو کال مخکې میلیاردر و.

پوښتنه: درې کسان د یوې ویالې نه، په لاندې ډول تېرېږي:

اول کس اوبه ویني او پښې یې هم لمدېږي.

دویم کس اوبه ویني، خو پښې یې نه لمدېږي.

دریېم کس نه اوبه ویني او نه یې پښې لمدېږي.

دا څنګه چل دی؟

ځواب: لومړی کس یوه مور ده، دویم کس ماشوم یې په غېږ کې دی، دریم کس بل ماشوم یې په خېټه کې دی.

پوښتنه: حنظله رضی الله عنه ته چا غسل ورکړی و؟
ځواب: ملایکو.
پوښتنه: په اسلام کې د لومړي غشي ګوزار، چا وکړو؟
ځواب: سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه.
پوښتنه: صحابه و کې سیدالشهداء (د شهیدانو سردار) چاته ویل کېږي؟
ځواب: حمزه رضی الله عنه ته.
پوښتنه: په اسلام کې لومړی نارینه شهید څوک و؟
ځواب: یاسربن عمار رضی الله عنه.
پوښتنه: د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه کومه بي بي وه، چې الله تعالی د ۷ اسمانونو دپاسه پرې نکاح وتړله؟
ځواب: زینب بنت حجش رضی الله عنها.
پوښتنه: په قرآن کریم کې هغه کوم سورة دی، چې د دوه مېوو په نامه شروع کېږي؟
ځواب: سورت تین (التین والزیتون).
پوښتنه: لومړی به په اخرت کې کوم امت سره حساب و کتاب کېږي؟
ځواب: د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم امت سره.
پوښتنه: لومړی رسول څوک و؟
ځواب: نوح علیه السلام.
پوښتنه: لومړی نبي څوک و؟
ځواب: ادم علیه السلام.
پوښتنه: په مدینه منوره کې لومړی کوم مهاجر ماشوم زېږېدلی دی؟
ځواب: عبدالله بن زبیر رضی الله عنه.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې پرته له لوګي اور اخلي؟
ځواب: ګازي داش.
پوښتنه: هغه کومه کلیمه ده چې که راسته یې وایې د خپل ځان مانا ورکوي او که چپه یې و وایې د یوې مېوې نوم ترې جوړېږي؟
ځواب: ما چې چپه شي، ام ترې جوړېږي.

پوښتنه: هغه کوم پیغمبر و، چې تر ټولو خوږ اواز یې درلوده؟
ځواب: داود علیه السلام.
پوښتنه: هغه کوم پیغمبر و، چې لومړی یې مېلمنو ته یې ملمستیا ورکړه؟
ځواب: ابرهیم علیه السلام.
پوښتنه: د مرهم پټی طریقه د لومړي ځل لپاره چا دود کړه؟
ځواب ابن زکریا الرازي رحمه الله.
پوښتنه: هغه کوم هېواد دی، چې سینما نه لري؟
ځواب: سعودي عربستان.
پوښتنه: هغه کوم حیوان دی، چې تراوسه یې اسمان نه دی لیدلی؟
ځواب: خوږ (خوگ).
پوښتنه: هغه کوم پیغمبر و، چې صبر کې مشهور و؟
ځواب: یعقوب علیه السلام.
پوښتنه: د قرآن کریم کوم سورت دی، چې ټوله دعا ده؟
ځواب: سورت الفاتحه.
پوښتنه: هغه کومه مېوه ده، چې پوستکی یې بخملي دی؟
ځواب: شفتالو.
پوښتنه: په مدینه منوره کې لومړی کوم صحابي وفات شو؟
ځواب: عثمان بن مظعون رضی الله عنه.
پوښتنه: په بصره کې تر ټولو وروستی کوم صحابي وفات شو؟
ځواب: انس بن مالک رضی الله عنه.
پوښتنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د معراج په شپه دویم اسمان کې د کوم پیغمبر سره ولیدل؟
ځواب: له یوسف علیه السلام سره.
پوښتنه: کوم صحابي د خپل مرگ نه مخکې دوه رکعته لمونځ وکړو؟
ځواب: حبیب بن عدی رضی الله عنه.
پوښتنه: په نړۍ کې لومړی کوم مسجد جوړ شوی دی؟
ځواب: مسجد حرام (بیت الله).

پوښتنه: د قرآن کريم ترجمان، کوم صحابي ته ويل کيږي؟
ځواب: عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما.
پوښتنه: د ځمکې په سر لومړنی غر کوم يو دی؟
ځواب: د ابی قبيس غر.
پوښتنه: په اسلامي مياشتو کې لومړی کومه مياشت ده؟
ځواب: د محرم الحرام مياشت.
پوښتنه: د عمر رضی الله عنه د جنازې لمونځ چا اداکړی دی؟
ځواب: صهيب رومی رضی الله عنه.
پوښتنه: د نړۍ ترټولو لوی ساعت په کوم ځای کې دی؟
ځواب: په مکه مکرمه کې.
پوښتنه: لومړی دوده‌ی ماتول چا کړي دی؟
ځواب: ابراهيم عليه السلام.
پوښتنه: کعبې شريفې ته په اول ځل چا غلاف ورواغوسته؟
ځواب: د يمن بادشا چې (اسعد حميري) نومېده.
پوښتنه: لومړی جنتي کس به څوک وي؟
ځواب: حضرت محمد مصطفی الله عليه وسلم.
پوښتنه: لومړی قتل چا وکړو؟
ځواب: قابيل.
پوښتنه: هغه کوم کس و، چې لومړی ځل يې کعبې شريفې ته د وريښمو غلاف ورواغوسته؟
ځواب: حجاج بن يوسف.
پوښتنه: په تورو شپو کې لاړم، په سرو وينو کې راغلم، په شين کفن کې لاړم، څه شی دی؟
ځواب: د افغانستان بيرغ.
پوښتنه: دا څه شی دی، چې په پينځو پښو ځي، خو په درې پښو ودريږي؟
ځواب: لاس گاډی.

پوښتنه: هغه کومه افغانه مېرمن وه، چې په هندوستان يې حکومت کړی دی؟
ځواب: سلطان ملکه راضيه.
پوښتنه: هغه کوم شی دی، که تش وي، که ډک وي، په وزن کې يې توپير نه راځي؟
ځواب: موبايل او چارج.
پوښتنه: بلال رضی الله عنه په څو کلنی کې ايمان راوړی دی؟
ځواب: په ۳۰ کلنی کې.
پوښتنه: د بدر غزا لومړنی شهيد څه نومېده؟
ځواب: مهجع بن عبدالله رضی الله عنه.
پوښتنه: په ازادو شويو غلامانو کې لومړی کوم صحابي ايمان راوړی دی؟
ځواب: زيد بن حارث رضی الله عنه.
پوښتنه: په عجمي ژبه لومړی چا تفسير وليکلو؟
ځواب: شاه ولی الله رحمه الله.
پوښتنه: په مکه کې په لومړی ځل چا په جهر قرآن کريم تلاوت کړو؟
ځواب: عبدالله بن مسعود رضی الله عنه.
پوښتنه: د کوم صحابي په مرګ عرش ولړخېده؟
ځواب: د سعدبن معاذ رضی الله عنه.
پوښتنه: د شرک په رد کې لومړی نبي څوک و؟
ځواب: نوح عليه السلام.
پوښتنه: هغه کومه مېوه ده، چې د زړه په سر چاودلې ده؟
ځواب: پسته.
پوښتنه: د جنتيانو به لومړی خوراک څه وي؟
ځواب: د ماهي جيګر يا زړه.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې نه خاورې کېږي؟
ځواب: هډوکي.
پوښتنه: هغه کوم صحابي و، چې جبرايل عليه السلام ته مشابهت درلوده؟
ځواب: دحية الکلبي رضی الله عنه.

پوښتنه: د افغانستان کوم جمهور رئیس و، چې په سوله ییزه توګه یې واک بل جمهور رئیس ته وسپاره؟

ځواب: حامد کرزی.

پوښتنه: د ځمکې په سر لومړی عبادت ځای کوم یو دی؟

ځواب: کعبه شریفه.

پوښتنه: زما یو شی دی، چې نه په اسمان کې شته نه په ځمکه کې؟

ځواب: فکر او سوچ.

پوښتنه: د احادیثو لومړی کتاب چا ولیکه؟

ځواب: امام مالک رحمه الله.

پوښتنه: د احادیثو لومړنی کتاب څه نومیده؟

ځواب: موطا.

پوښتنه: شوپرک په شپه کې د څه شي، پواسطه لاره پیداکوي؟

ځواب: غږ په انګازې.

پوښتنه: د انسان ویښته په کوم موسم کې ډېر غځېږي؟

ځواب: په اوړي کې.

پوښتنه: تر ټولو قوي او غښتلی حکومت چا د ځمکې په سر کړی دی؟

ځواب: سلیمان علیه السلام.

پوښتنه: د ماشوم د پیداکیدو نه څومره وخت وروسته، د اوښکو سره ژړا کوي؟

ځواب: ۵ اونۍ وروسته.

پوښتنه: د لومړی ورځې سپوږمۍ ته څه وایې؟

ځواب: میاشت.

پوښتنه: په نړۍ کې تر ټولو زیاته کومه مېوه خوړل کېږي؟

ځواب: کېله.

پوښتنه: سپی څو غاښونه لري؟

ځواب: ۴۲ غاښونه لري.

پوښتنه: په مرغانو کې ترټولو لویې هګۍ کوم مرغه اچوي؟

ځواب: شتر مرغ.

پوښتنه: اوبه سپيني دي، كه شنې؟

ځواب: اوبه رنګ نه لري.

پوښتنه: ترټولو زيات عمر د كوم حيوان دی؟

ځواب: د سمسياري.

پوښتنه: هغه كوم حيوان دی چې انسان ته ورته د اوښكو په بهېدلو د غم او ژړا اظهار كوي؟

ځواب: فيل (پيل).

پوښتنه: په افغانستان كې چارسده د كوم ولايت ولسوالی ده؟

ځواب: د غور ولايت.

پوښتنه: د نړی ترټولو زيات بارانونه په كوم ځای كې وربږي؟

ځواب: د هند په اسام نومي سيمه كې.

پوښتنه: هغه كوم غږ يا اواز دی، چې الله تعالی پيداكړی دی، خو بيا هم يې ورته بد ويلی دی؟

ځواب: د خره اواز.

پوښتنه: د هوټلونو ښار كوم ښار ته ويل كيږي؟

ځواب: د بيروت ښار ته ويل كيږي.

پوښتنه: د انسان په بدن كې ترټولو سخته غوښه كومه ده؟

ځواب: د زړه غوښه.

پوښتنه: هغه كوم يې ساه شی دی، چې حج پرې نشته، خو كله چې كعبې شريفې ته ورسېده نو طواف يې وكړ؟

ځواب: د نوح عليه السلام كيښتی وه، كله چې اوبه كمې شوې او كعبې ته ورسېده، نو طواف يې وكړو.

پوښتنه: د انسان په بدن كې ترټوالو زياتی اوبه په كوم بدن كې دی؟

ځواب: په سترګو كې.

پوښتنه: په حيواناتو كې تېز تګ، د كوم حيوان كوي؟

ځواب: پړانګ.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې بې پښو ځي او غوږونو ته ننوځي؟

ځواب: غږ.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې تاته مخامخ دی، خو ته يې نه کوې؟

ځواب: راتلونکې زمانه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ته ترې شی اخلي لويېږي او که څه شی، ورواچوې تنګېږي؟

ځواب: کنده.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې پاڼې لري، خو نبات نه دی، پوستکی لري، حيوان نه دی، ژبه لري انسان نه دی؟

ځواب: کتاب.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې اورېدل نه شي کولای، خو انسان پوه کولای شي؟

ځواب: کتاب.

پوښتنه: هغه کوم قوم دی، چې په عربستان کې شته، خو په مصر کې نشته؟

ځواب: حبش.

پوښتنه: په نړۍ کې هغه کوم هېواد دی، چې تر ټولو لږ نفوس لري؟

ځواب: واتيکان.

پوښتنه: په نړۍ کې هغه کوم اسلامي هېواد دی، چې تر ټولو زيات نفوس لري؟

ځواب: اندونيزيا.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ټول اور دی؛ خو لرګی په کې نشته؟

ځواب: لمر.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې پوستکی يې د غوا په څير دی، خو غوا نه ده؟

ځواب: خرګوش.

پوښتنه: د ځمکې له پلوه د افغانستان تر ټولو لوی ولايت کوم يو دی؟

ځواب: فراه.

پوښتنه: د لاس کومه ګوته په نيولو کې زياته برخه لري؟

ځواب: منځنۍ ګوته.

پوښتنه: د کومو کلو پيل او پای يو شان دی؟

ځواب: پمپ، توت، ليبيا.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې خوراک کوي، خو مړېږي نه؟

ځواب: اور.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې حق ثابت دی، خو خلک يې بد ګڼي؟

ځواب: مرګ.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ژاړي، خو سترګې نه لري؟

ځواب: وريځ.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې پينځه ګوتې لري، خو هډوکی او غوښه نه لري؟

ځواب: دستکشې.

پوښتنه: هغه کوم حيوان دی، چې د اوبو نه موجوديت په صورت کې ډېر مقاومت کوي؟

ځواب: اوښ.

پوښتنه: هغه څه شی دی، د کور نه چارچاپېره ګرځي، خو کور ته نه داخلېږي؟

ځواب: دېوال.

پوښتنه: هغه کوم مرغه دی، چې يې ښکو الوځي؟

ځواب: شوپرک.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې پورته ځي، ښکته نه ځي؟

ځواب: عمر.

پوښتنه: هغه څه شی دی: ډنډ دی، په ډنډ کې مار دی، د مار په خوله کې تار دی؟

ځواب: ډيوه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې اوږده لکی، خو حيوان چيچي؟

ځواب: توپک.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سهار سر له لاسه ورکوي، خو شپې يې بيرته اخلي؟

ځواب: بالښت.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې د شپې ورځې ګرځي هيڅ خوب نه لري؟

ځواب: سيند.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ګډې وډې لارې، ډېرې مزيدارې؟

ځواب: چیلوبی.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې غريب دی، خو نوم يې خان دی؟

ځواب: دسترخوان.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې خام خوري، پخه وباسي؟

ځواب: تنور.

پوښتنه: يوه قوطی ده، په قوطی کې د سرو زرونجلی ده؟

ځواب: هګۍ او هګۍ کې چرګوړې.

پوښتنه: هغه کوم شی دی، پې پښو توپ وهي؟

ځواب: توپ.

پوښتنه: هغه کوم شی دی، چې په خېټه يې خوري، په خوله يې اوباسي؟

ځواب: رنده.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې له ځان څخه يې شمله اوږده؟

ځواب: ستن او تار.

پوښتنه: هغه کوم شی دی، چې پوستکی يې حیوان خوري، مغز يې انسان خوري او دانې يې چرګان خوري؟

ځواب: هندوانه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې نورو خلکو ته کالي جوړوي، خو خپله لوڅه ګرځي؟

ځواب: ستن.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې مونږ فکر کوو، چې خورو يې خو هغه مونږ خوري؟

ځواب: قهر.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ترڅو سر ورته پرې نه کړې، خبرې نه کوي؟

ځواب: د ليک پاکټ.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ټولو څکلي دي، خو پرته له ادم عليه السلام نه؟

ځواب: د مور شيدې.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ډېر يې لږ دی او لږ يې ډېر دی؟

ځواب: دوست او دښمن.

پوښتنه: هغه کوم دوه دي، چې نه درې کېږي!

ځواب: شپه او ورځ.

پوښتنه: هغه کوم څلور دي، چې نه پينځه کېږي!

ځواب: څلور فصلونه.

پوښتنه: هغه کوم پنځه دي، چې نه شپږ کېږي!

ځواب: د لاسونو او پښو ګوتې.

پوښتنه: هغه کوم شی دی، چې که ډک وي، که تش په وزن کې توپير نه راځي!

ځواب: کسټه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په اوړي کې جامې اغوندي، خو په ژمي کې لوڅه ګرځي!

ځواب: ونه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې دوه پښې لري، خو کله چې روانېږي دوه پښې له بل ځا څخه اخلي!

ځواب: بايسکل.

پوښتنه: هغه کوم شی دی، چې هرڅومره يې ترې وباسي، هماغومره پکې ډېرېږي!

ځواب: کوهی.

پوښتنه: هغه کوم شی دی، چې که په اوبو ولوېږي، نه لمدېږي!

ځواب: سيوری.

پوښتنه: هغه کوم شی دی، چې غږ لري، خو په سترګو نه ليدل کېږي!

ځواب: توپان.

پوښتنه: هغه کوم شی دی، چې کال دولس مياشتې په يوه پښه ګرځي!

ځواب: ونه.

پوښتنه: هغه کوم شی دی، چې اوبه ورته ورکړي مړ کېږي!

ځواب: اور.

پوښتنه: هغه کوم شی دی، چې کله سر کېږدي، خبرې کوي او چې سر جګ کړي، خبرې نه شي کولای!

ځواب: قلم.

پوښتنه: هغه کوم شی دی، چې څلور پښې لري، خو حرکت پرې نه شي کولای؟
ځواب: کټ.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې د خوراک شی نه دی، خو خلک یې خوري؟
ځواب: قسم یا سوګند.
پوښتنه: هغه کومې اوبه دي، چې په لمر سره زیاتېږي او په یخ شره کمېږي؟
ځواب: خوله یا د واورې اوبه.
پوښتنه: ادم علیه السلام د ځمکې تر راتلو نه وروسته لومړی کومه مېوه وخوړه؟
ځواب: بېره.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې د اوبو له مینځه تیرېږي، خو نه لمدېږي؟
ځواب: غوږي.
پوښتنه: هغه کومه مېوه لرونکې ونه ده، چې تر ۴۰ کالو مخکې مېوه نه نیسي؟
ځواب: د خرما ونه.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې خوري یې خوړلی یې شې، خو که نیسي یې، نه یې شې نیولې؟
ځواب: هوا.
پوښتنه: په دنیا کې هغه کوم پاک ځای دی، چې پاکوالي سره بیا هم پرې لمونځ نه کېږي؟
ځواب: د کعبې شریفې بام.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ته یې تړې، تا هم تړي؟
ځواب: پرتوګ عابنې.
پوښتنه: هغه کوم د هېواد پولي واحد دی، چې که وروستي څلور توري ترې لرې شي، نو ګنجي مانا ورکوي؟
ځواب: کلداره (کل).
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سپینه کوټه ده، نه یې لار شته او نه یې کوځه؟
ځواب: هګۍ.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سرتړلی ایې کور پاکوي؟
ځواب: جارو.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ته یې حلالوې تا ژړوي؟

ځواب: پیاز.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په هیڅ شي نه ماتېږي، پرته له لمره؟

ځواب: سیوری.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې وهې یې، نو ژوندی وي، چې نه یې وهې مړ وي؟

ځواب: دول.

پوښتنه: د انسان په لاس کې، څو هډوکی دی؟

ځواب: ۲۷.

پوښتنه: په نړۍ کې هغه کوم دریاب دی، چې پر هغې ۳۳ پلونه جوړ شوي دي؟

ځواب: د پیرس مشهوره دریاب(سین) دی.

پوښتنه: په نړۍ هغه کوم دوه هېوادونه دي، چې د هغوی ترمنځه ۳۸ دقیقې جنګ شوی دی؟

ځواب: د برتانیې او زنجبار ترمنځ په (۱۸۹۶م.) کال کې.

پوښتنه: نړیواله لوبه کرکټ څو مادې لري؟

ځواب: کرکټ ۴۷ مادې لري.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې یو نیسي، دوه ترې زانګي؟

ځواب: تله ترازو.

پوښتنه: په سورة الناس کې د (ت) توری څو ځله راغلی دی؟

ځواب: یو ځل.

پوښتنه: هغه کوم عربي هېواد دی، چې د نوم مانا یې په فارسي کې (شونډې او ډوډۍ) ده.

ځواب: هغه لبنان (لب - نان) دي.

پوښتنه: په دویمه نړیواله جګړه کې څو هېوادونو برخه اخیستې وه؟

ځواب: ۵۶.

پوښتنه: د کربلا د شهیدانو شمېر څومره و؟

ځواب: ۷۲ تنه.

پوښتنه: په دنیا کې ترټولو نه مخکې کوم حیوان مریض شوی دی؟

ځواب: زمری چې د نوح علیه السلام په کیښتی کې مریض شو.

پوښتنه: ۲۴ساعته څو ثانیې کېږي؟

ځواب: ۸٦۴۰۰ ثانیې.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې خپله درته نه ښکاري، خو د بل په لیدو کې درسره مرسته کوي!

ځواب: عینکې.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سپینه سپوږمی ده، په ملا سوری ده؟

ځواب: کونجکه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې د شاتو نه خوږه ده او د زمري نه زوروره ده؟

ځواب: مینه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې د شپې ورسره یم، د ورځې ورسره نه یم، هیڅ ورنه خپه نه یم!

ځواب: بستره

پوښتنه: هغه څه شی دی، بې پښو او بې سره روان دی!

ځواب: اوبه.

پوښتنه: هغه کومه سپېځلې کلیمه ده، چې په ویلو سره یې شونډې نه لګېږي!

ځواب: (لااله الا الله).

پوښتنه: هغه کومه توره شپه ده، چې په منځ کې یې ورځ لیدل کېږي!

ځواب: د ستوګو تور.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې له تانه مخکې کور ته ننوځي!

ځواب: د دروازې غږ.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې توکری له پولیو ډکه ده، خو څوک یې خوړلی نه شي!

ځواب: د اسمان ستوري.

پوښتنه: ترازو چې سرچپه کړې، څه شی ترې جوړېږي!

ځواب: وزارت.

پوښتنه: د لمر او سپوږمۍ مخونه کوم طرف ته دي؟

ځواب: مخونه يې اسمان طرف ته دي او شاګانې يې ځمکې طرف ته.

پوښتنه: هغه کوم ژنده دی، چې پړپوس نه لري؟

ځواب: ماهي.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې نه غوښه لري، نه وينه او بيا هم خبرې کوي!

ځواب: دوزخ او جنت.

پوښتنه: په نړۍ کې هغه څوک و، چې لومړی خل لپاره يې پښه خښته جوړه کړه!

ځواب: هامان.

پوښتنه: هغه کوم کس دی، چې په ژوند کې يې يو لمونځ هم نه دی کړی، خو جنت ته به ځي؟

ځواب: عمرو بن ثابت رضی الله عنه، چې په جنګ کې ايمان راوړی و او په همغه غزا کې شهيد شو.

پوښتنه: هغه کومه کوچنۍ ده، چې مور ته شيدې ورکوي!

ځواب: وياله يا نهر، چې سيند ته يې اوبه ولېږي.

پوښتنه: هغه کوم مېوه ده، چې نوم يې له دوه حيواناتو له نومونو جوړ شوی دی!

ځواب: خربوزه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ټول زيان دی!

ځواب: اور.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې له شاتو نه هم خوږه ده!

ځواب: مينه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې له تورې، هم تېره ده!

ځواب: ژبه.

پوښتنه: هغه کوم درې ورونه دي، چې يو يې همېشه ولاړ وي، يو يې همېشه روان وي او يو يې همېشه ناست وي؟

ځواب: ونه، اوبه، تيګه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې د مدرسې او مکتب نه هم ضروري دي؟

ځواب: پېښې.

پوښتنه: هغه کوم هېواد دی، چې په هغې کې ښځې يېلې کرځيدل جرم دی؟
ځواب بلجيم.
پوښتنه: په اذان کې د ( الله ) کلمه څو ځلې راغلې ده؟
ځواب: يوولس ځلې.
پوښتنه: په نړۍ کې د ودانيو پيل له کوم ځای وشو؟
ځواب: له مکې معظمې نه.
پوښتنه: هغه کوم ښکار کوونکی حيوان دی، چې زړه يې ورکوتی دی؟
ځواب: زمری.
پوښتنه: په الوتونکو کې هغه کوم الوتونکی دی، چې اتفاق لري؟
ځواب: کارغان.
پوښتنه: هغه کوم ښار دی، چې عسويان او يهودان يې مقدس ګڼي؟
ځواب: بيت المقدس ښار.
پوښتنه: په يوه اونۍ کې څو رکعاته لمونځ اداکېږي؟
ځواب: ۲۲۴ رکعته.
پوښتنه: په پينځه وخته لمانځه کې څو ځله (الله اکبر) ويل کېږي؟
ځواب: يو سل اتيا ځله.
پوښتنه: هغه کومه ونه ده، چې د نوح عليه السلام له توپانه وروسته راوغوړيده؟
ځواب: د زيتون ونه.
پوښتنه: په پينځه وخته لمونځ کې څو ځلې (سبحان ربی العظيم) ويل کېږي؟
ځواب: ۹۶ ځله.
پوښتنه: په پنځه وخته لمونځ کې څو ځله (سبحان ربی الاعلی) ويل کېږي؟
ځواب: يوسلودوه نوي.
پوښتنه: هغه کومه مور ده، چې چانه ده زيږولې؟
ځواب: بي بي حوا رضی الله عنها.
پوښتنه: د مرغی له هګۍ څخه څو ورځې وروسته بچي راوځي؟
ځواب: يوويشت ورځې وروسته.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې جمله شیان په هغې کې دی؟

ځواب: د الفبا توري.

پوښتنه: د خرما ونه له څه شي څخه جوړه شوې ده؟

ځواب: د ادم علیه السلام له اضافه شوې ختې څخه.

پوښتنه: ادم علیه السلام له هر شي نه مخکې څه شی ساتلی و؟

ځواب: چرګ.

پوښتنه: د امینه قومندانی لومړی بنسټګر څوک و؟

ځواب: حضرت عمر فاروق رضی الله عنه.

پوښتنه: لومړی خل لپاره بنوونکي ته میاشتنی معاش چا وټاکه؟

ځواب: حضرت عمر رضی الله عنه.

پوښتنه: په لومړی خل چا ویښتانو ته تور رنګ ورکړی دی؟

ځواب: فرعون.

پوښتنه: کوم مارغه ته په ختیځ کې هوښیار او په لویدیځ کې احمق ویل کېږي؟

ځواب: کونګ ته.

پوښتنه: هغه کومه مرغی ده، چې له سر پورته کولو پرته اوبه څښي؟

ځواب: کوتره.

پوښتنه: هغه کوم حوض دی، چې یو تار په کې نه ځايېږي، خو انسان له هغې اوبه څکي؟

ځواب: د مور تی.

پوښتنه: هغه کوم مېلمه دی، چې بې بلنې راځي؟

ځواب: مرګ.

پوښتنه: حمیرا ملکه د افغانستان کوم پاچا لور ده؟

ځواب: د ظاهرشاه.

پوښتنه: چې تاسره مخامخ شي، ته یې اواز اورېدلی شې، ته یې کتلی شې، خو ته ورسره خبرې نه شې کولی؟

ځواب: تلویزیون.

پوښتنه: څلور وروڼه دي، دوه مشران دي، دوه کشرانې دي، یو بل پسې منډې وهي، یو بل پسې نه شي رسیدلي؟
ځواب: د تکټر (ټراکټور) ټایرونه.

پوښتنه: یو سړي خپلې ښځې ته وویل چې داسې خواړه راته پاخه کړه چې ته په کې یو من مالګه واچوې، خو هغه خواړه د مالګې مزه ونه کړي، که نه نو ته په ماطلاقه یې، اوس به دا ښځه څه چل کوي؟
ځواب: ایشیدلې هګۍ.

پوښتنه: هغه کومه مېوه ده، چې نه پوټکی لري، نه زړی؟
ځواب: توتان.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې خوړ دی خو طعام نه دی، درونډ دی خو وزن نه لري؟
ځواب: خوب.

پوښتنه: هغه کومه مېوه ده، چې د مېوې نه یې زړی غټ دی؟
ځواب: ام.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې مړه شیان ژوندي کوي او ژوندي شیان مړه کوي؟
ځواب: برق یا برېښنا.

پوښتنه: هغه کومې خبرې دي، چې په غوږونو نه اورېدل کېږي او په سترګو لیدل کېږي؟
ځواب: د ګونګي اشارې.

پوښتنه: هغه کومې پوښتنې دي، چې د هرې دقیقې وروسته پوښتلو سره بېل بېل ځوابونه ترلاسه کېږي؟
ځواب: ساعت(څو بجې دي؟).

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې الله تعالی ښځو ته نه ده ورکړې؟
ځواب: پیغمبري.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې اوبه د اوره چاپېره ګرځي؟
ځواب: سماوار.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې بې روحه شی دی، د روح لرونکي دشمن دی؟
ځواب: وسله.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې راځي نو بار لري، چې ځي کار لري؟
ځواب: کاشوغه.
پوښتنه: هغه څه شي دی، چې پاس وي نو نام دی، چې لاندې وي بام دی؟
ځواب: ټکی.
پوښتنه: هغه څه شی دی، که انسان د هغه تعقیبولو پسې شي، هغه ته نه شي رسېدلی؟
ځواب: سیوری.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سر یې تړلی، منځ کې یې بې شمېره مرغلرې دي؟
ځواب: انار.
پوښتنه: هغه کوم یو دی، چې دوه کېدای نه شي او هغه کوم دوه دي، چې درې کېدای نه شي؟
ځواب: الله تعالی او شپه ورځ.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې نه لاس لري، نه پښې، د هر ځای نه خبر دی؟
ځواب: خط.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې لکۍ لري، نوم نه لري، په خېټه باندې دبګ لري، زه ورسره مینه لرم، د هغه مینه له زړو سره ده؟
ځواب: حمام.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سپینوالی یې ګنده او تور والی یې ښکلی؟
ځواب: د لیکلو تخته.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ګرد دی او وړوکی دی او ګران دی، کله حلال کله په مکمل ډول حرام؟
ځواب: انګور چې شراب ترې جوړ شي، حرام دی.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سپین دی، خوږ نه دی، جړی لري، ونه نه ده؟
ځواب: غابښونه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې الوزي وزرې نه لري، ګېښې خو سر نه لري، سر یې سپین دی، ویښته نه لري!
ځواب: واوره.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سپین دی، خو بوی نه لري، د ټولې غذا خوند پرې جوړېږي؟
ځواب: مالګه.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې پرته د ښکو او وزنونو په هوا کې الوزي!
ځواب: لوګی.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې هر څه د هغه لاندې تېرېږي!
ځواب: قلم.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې نه په اوبو خرابېږي، نه په اور سوزېږي؟
ځواب: سیوری.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې همېشه زیاتېږي او کمېږي؟
ځواب: د میاشتې سپوږمۍ.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې کمېږي نه، خو همېشه زیاتېږي!
ځواب: د انسان تمه.
پوښتنه: هغه کومه مرغۍ ده، چې د اوسپنې وجود او د اوسپنې زړه او د پولادو وزرې لري!
ځواب: الوتکه.
پوښتنه: هغه څه شی دی، لاس یې د پیل او اواز یې د دیو دی؟
ځواب: توپک
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې یوه لحظه کې عالم ته ګرځي؟
ځواب: باد، سیلۍ.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې یې زړه ذات یې ښنو دی او په لاسو روان دی؟
ځواب: اوبه.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې مړی، ژوندی نیسي؟
ځواب: دام تلک.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې دننه په خېټه کې يې انسان پټ دی؟
ځواب: خاوره.
پوښتنه: هغه کومه ونه ده، چې يوازې پينځه پاڼې لري؟
ځواب: لاس.
پوښتنه: هغه څه شي دی، چې په څوارلس کلنی کې ځوانېږي او په دېرش کلنی
مې بيرته ماشوم کېږي؟
ځواب: مياشت.
پوښتنه: هغه څه شي دی، چې د ورځې درسره وي، خو د شپې نه؟
ځواب: سيوری.
پوښتنه: هغه څه شي دی، چې کله مايع وي، نو ليدل کېږي او کله چې گاز شي،
نو نه ليدل کېږي، کله د تېږي په شان سخت شي، کله د پنبې په شان نرم؟
ځواب: اوبه.
پوښتنه: هغه کوم شين رنگ دی، چې اوبه پکې واچوي سورکېږي؟
خواب: تکريزې.
پوښتنه: هغه څه شي دی، چې خپله سل ځله خمکه خوري، خو ملگری نه پرېږدي،
چې يو ځل خمکه وخوري؟
ځواب: امسا.
پوښتنه: هغه څه شي دی، چې بند يې نه کړي، نه ويده کېږي؟
ځواب: سترگې.
پوښتنه: هغه توره تياره ده، چې په منځ کې يې رڼا ليدل کېږي؟
ځواب: د سترگو تور.
پوښتنه: هغه څه شي دی، چې په شپه کې د ورځې نه زيات دي؟
ځواب: تکی.
پوښتنه: هغه څه شي دی، چې ډېر مهربانه دی، هو بې روحه دی؟
ځواب: کتاب.
پوښتنه: هغه څه شي دی، چې د شاتو نه هم خوږ دی؟
ځواب: خوب.

پوښتنه: هغه څه شی، چې توره وينه خوري او په سپينه لاره ځي؟

ځواب: د درمې قلم.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې نه سترگې لري، نه لاسونه، خو د هرڅه نه خبر وي؟

ځواب: راډيو.

پوښتنه: درې دوکانداران په يوه دوکان کې ناست دي، يو خرمنې خرڅوي بل يې فردي خرڅوي، دريم يې ياقوت خرڅوي!

ځواب: انار.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې هره ورځ بچي خان ته راټولوي او ژاړي؟

ځواب: سماوار.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې اول تور وي، بيا سور شي او په اخره کې خړ شي؟

ځواب: د ډبرو سکاره.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په هرې لارې ځي او په هر سوری وزي، خو د ښپو نښان يې نه پاتې کېږي!

ځواب: باد يا سيلی.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ابی د دسمال ډک د گلانو دی!

ځواب: اسمان.

پوښتنه: هغه څه شی دی، نه جوار خوري، نه غنم، خو خلکو ته خوراک ورکوي؟

ځواب: د شاتو مچی.

پوښتنه: هغه څه دی، چې بار وړي په خروار، تکيه کوي په ديوال؟

ځواب: د غذا ديگ.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په ژمي کې د تبرې په شان کلک وي او په اوړي کې د مالوچو په شان نرم وي؟

ځواب: اوبه چې ژمي کې کنگل وي.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې هرڅومره زيات وي، خو کم معلومېږي؟

ځواب: تياره تورتم.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې د ورځې بيرته وي، د شپې بندې وي؟

ځواب: سترگې.

پوښتنه: هغه کومه چینه ده، چې اوبه یې دوه رنګه دي؟
ځواب: هګۍ.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې د ځمکې نه تېرېږي ساکت کېږي او که په غېږه کې یې ونیسي، فریاد کوي؟
ځواب: زانګو.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې نه یو من دی، نه نیم من باروړي، لس منه؟
ځواب: بوټ.
پوښتنه: هغه څه شی دی، نه قلف دی، نه دروازه، خو همېشه بیرته او تړل کېږي؟
ځواب: خوله.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سر یې په ځمکه کې او پښې یې په اسمان کې دي؟
ځواب: لوګی.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په دین کې عزت من دی، اول ټکی یې (ب) دی، اخری ټکی یې (س) دی؟
ځواب: قرآن کریم.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په کورنی کې پیدا دي او په ښار کې درې دي؟
ځواب: توري.
پوښتنه: هغه څه شی دی، نه لاس لري، نه پښې، خو یو ځای نه بل ځای ته ځي؟
ځواب: اوبه.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې نه لاس لري نه پښې، په هرځای کې شته، خو تلل نه شي کولی؟
ځواب: خاوره.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې نه لاس لري، نه پښې، په ځمکه کې ناست دي؟
ځواب: تیږه.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې شپه او ورځ کار کوي. نه ستړی کېږي؟
ځواب: ساعت.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې که لویې ورسره کوي، د دښتې په اندازه وي او که راجمعه کوي یې، د یوې موټې په اندازه وي؟

ځواب: د انسان زړه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې یو ځل یو شی پرې ونښلېږي، بیا نه بېلېږي؟

ځواب: نوم.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې هر څومره زوړه او زړه شي، ښه وي؟

ځواب: دوستي.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې یوه پښه یو سر لري؟

ځواب: مېخ.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې انسان دی، مالک دی، خو نه شي کولی چې وبې ګوري؟

ځواب: سترګې.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په دنیا کې ځای نه لري، خو د انسان په زړه کې ځای لري؟

ځواب: خدای.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې نه لاسونه اونه پښې لري او پرته د کوم اوازه کوټې ته دننه کېږي؟

ځواب: لمر.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په هرځای کې ویښ وي، خپلې ښپې نه شي لیدلی؟

ځواب: څراغ.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې یوه چینه ده او په چینه کې مار دی او د مار په خوله کې روبی ده؟

ځواب: د تېلو څراغ.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په تېزي سره په لار ځي او په سختۍ سره په لار ځي؟

ځواب: مېږي.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې د خوړ نه اوږد او اوږد دی او د ډبرتو او ونو نه لنډ دی!

ځواب: چوک (جاده).

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې اول سپین وي، بیا شین شي او بیا زیړ شي او په اخر کې تور کېږي؟

ځواب: خرما کهجوره.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې زر غشی دی او په یوه کمربند تړلی دی!

ځواب: جارو.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې که هرڅومره ډېر وي، بیا هم د انسان لپاره کم دی!

ځواب: صبر.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سل ورونه دي او په یو کور کې ناست دی!

ځواب: تسبېح.

پوښتنه: هغه څه شی دی، په څلورو فصلو کې یو فصل وي!

ځواب: واوره.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سر یې په اسمان کې دی او پښې یې په ځمکه کې دی، یو کس زرګونه زامن لري، خوږه غوښه او سپین هډوکی لري!

ځواب: خرما .

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې یو لوښي لرم، چې وده کېږم، ډک وي، چې سحر راویښ شم هیڅ شی هم نه وي!

ځواب: اسمان او ستوري.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې کم یې هم ډېر دی!

ځواب: دښمن.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې هرڅومره ډېر شي بیا هم کم وي!

ځواب: د انسان عمر.

پوښتنه: هغه څه شی دی، که څومره وړوکی وی، بیا هم لوی دی!

ځواب: ګناه.

پوښتنه: هغه څه شي دی، چې سترګې لري، خو ليدل پرې نه شي کولی؟

ځواب: وروځې.

پوښتنه: هغه څه شي دی، چې هر څومره خوراک وکړي، نه مري؟

ځواب: باد هوا.

پوښتنه: هغه څه شي دی، که هرڅومره لوی شی وړوکی کېږي؟

ځواب: جامې.

پوښتنه: هغه څه شي دی، چې قرآن کریم کې یو دی، په دقیقه دوه دی او په کال کې نشته؟

ځواب: د (ق) توری.

پوښتنه: هغه څه شي دی، هرڅه خوري او په اخر کې مري؟

ځواب: اور.

پوښتنه: هغه څه شي دی، چې په هر طرف خرڅېږي، خو په خپل ځان نه خرڅېږي؟

ځواب: د انسان سر.

پوښتنه: هغه څه دی، چې اول لرګی و، بیا وروسته حیوان شو؟

ځواب: د موسی علیه السلام امسا.

پوښتنه: هغه کوم شربت دی، چې که ډېر وي، نو قیمت یې کم وي، کله چې کم وي، قیمت یې لوړ وي؟

ځواب: اوبه.

پوښتنه: هغه څه شي دی، چې ځینې ځناور یې په خوله کې لري او ځینې یې په لکۍ کې؟

ځواب: نیش لشکه.

پوښتنه: هغه څه شي دی، چې یوه پښه درې سترګې لري؟

ځواب: څراغ.

پوښتنه: هغه څه شي دی، چې نه پښې لري، نه لاسونه، په هر ځای کې وي؟

ځواب: هوا.

پوښتنه: كه د جنازې په لمانځه كې دې، په تندي كې اغزى لاړ شي، اودس پرې ماتېږي؟

ځواب: په جنازه كې سجده نه وي.

پوښتنه: هغه څه شى دى، چې په ورځ كې نشته په شپه كې شپږ دي او په مياشت كې اووه دي او په كال كې نشته؟

ځواب: تكي.

پوښتنه: هغه څه شى دى، په ننګرهار كې اول په كندهار كې دويم او په لغمان كې اخر راځي؟

ځواب: د (ن) توری.

پوښتنه: هغه څه شى دى، د شپې وي، د ورځې نه وي؟

ځواب: ستوري.

پوښتنه: هغه څه شى دى، چې ته يې ګورې، خو تانه ګوري؟

ځواب: تلويزيون.

پوښتنه: هغه څه شى دى، چې په ورځ كې نشته او په شپه كې شته؟

ځواب: تكى (نقطه).

پوښتنه: هغه كوم هېواد دى، چې په نوم كې يې د جينۍ او د مېوې نوم راځي؟

ځواب: امريكا، امه د مېوې ريكا د جينۍ نوم دى.

پوښتنه: هغه څه شى دى، چې ستا د لاس او په پښو ځي، دوه نفره وړي، نه تېل خوري، نه برق؟

ځواب: بايسكل.

پوښتنه: هغه څه شى دى، چې اوږد پړى خوړلى شي، غټ انسان پرې پټې دلى شي، هر كور كې استعماليدلى شي؟

ځواب: د كالو ماشين.

پوښتنه: يک توته گل، تمام خانه كاګيل؟

ځواب: ګروپ.

پوښتنه: په صابون كې شته، په پودرو كې نشته؟

ځواب: د (ن) توری.

پوښتنه: هغه کومه مېوه ده، چې په نړۍ کې تر ټولو زياته خوړل کېږي؟
ځواب: کېله.
پوښتنه: زما او ستا ترمنځ څه دي؟
ځواب: د (او) کلمه.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې انسان يې مالک دی، خو ليدلی نه شي؟
ځواب: سترګې.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې يوه پښه يو سر لري؟
ځواب: مېخ.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په ښځه کې دوه دي او په نر کې يو دی؟
ځواب: ټکي.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې يوه سترګه لري، همېشه خلاصه وي، هو ليدل پرې نه شي کولای؟
ځواب: ستن.
پوښتنه: په الفبا کې هغه کوم توری، چې سرچپه يې کړې، د مال مانا ورکوي؟
ځواب: لام.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په کورنۍ کې پينځه دي او په ښار کې درې دي؟
ځواب: د الفبا توري.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې د ورځې غلی پروت وي، راوتې يې کولمې وي، جامې يې د ښيښې دي، خوندونه يې دشپې دی؟
ځواب: چراغ.
پوښتنه: ما سره يو شی دی، سر نه لري، دبلی دی، دا څه شی دی؟
ځواب: هګۍ.
پوښتنه: ستا د ښځې ورور زما ماما کېږي، زه او ته به سره څه کېږو؟
ځواب: زوی او پلار.
پوښتنه: هغه څه شی دی، کلک دی، تيږه نه ده، هګۍ اچوي، چرګه نه ده خلور پښې لري، سپی نه دی؟
ځواب: شمشتی ده.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې بې وزرو او بې پښو اسمان ته خېژي؟

ځواب: لوگی.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې همېشه زیاتېږي او کمېږي؟

ځواب: سپوږمی.

پوښتنه: هغه کوم څلور ورونه دي، چې یوازې یوه کلا لري؟

ځواب: مېز.

پوښتنه: هغه کومه ونه ده، چې یوازې پینځه څانگې لري؟

ځواب: د لاس گوتې.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې نه لاس لري، نه پښې، خو اوبه څکي؟

ځواب: خمبیره.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په مینه کې درې دي او په نفرت کې څلور دي؟

ځواب: تکي.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ماجوړ کړو سمدلاسه، پرې سور شوم دپاسه په مخکې او په شاخې، پورته په هوا خي؟

ځواب: تال.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې تېوله ورځ کار کوي، ماښام یې خوله یې شنه وي؟

ځواب: لور.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې:

شپږ یې پنډی دي. لکی ملا کې لري.

دوه یې پښې دي. ژوند په هوا کې لري؟

ځواب: تله.

پوښتنه: له یو څخه تر دولسو پورې د عددونو جمع حاصل څو کېږي؟

ځواب: ۵۵ کېږي.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې کش یې کړې لنډېږي، چې خوشې یې کړې اوږدېږي؟

ځواب: د چیلم لوگی.

پوښتنه: هغه څه شی دی، بې ستنو کوټه په کې ناست دی، شهزاده؟
ځواب: دا قبر او مړی.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې وای ولګه، نو نه لګي، چې وایې مه لګه نو لګي؟
ځواب: شونډې.

پوښتنه: په قرآن کریم کې هغه کوم ایات دی، چې په هغې کې د میم تورې (۳۳) ځلې راغلی دی؟
ځواب: د بقرې سورت (۲۸۲) ایات.

پوښتنه: هغه کوم ایات دی، چې په هغې کې د میم توری شپاړس ځلې راغلی؟
ځواب: سورت هود (۸۴) ایات.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې یو سر یې نری بل یې سوری دی؟
ځواب: ستن.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې اس مې ولاړ دی، ورختی نه شم، چابک مې درون دی، را اخیستی نه شم؟
ځواب: ځمکه او اسمان.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې شنې جامې لري، سپین غاښونه لري او سره بږیتونه لري؟
ځواب: جوار.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې د اوسپنې نه کلک دی او د ګل نه نازک دی؟
ځواب: انسان.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سپین سپین یې بږیتونه دي، بې شمېره یې غاښونه دي؟
ځواب: جوار.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې لس ورته ورځي، دوه ترې راځي؟
ځواب: لاسونه ګوتې او غوږونه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې خېټه یې شته، کولمې یې نشته، سر یې شته، مالغزه یې نشته، خوله یې شته، ژبه یې نشته؟
ځواب: چاینک.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې تور وي، سپين نه وي، چې سپين وي، تور نه وي!
ځواب: شپه او ورځ.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې پينځو ونيوه، دوه دېرشو مات کړو!
ځواب: مړی ګوتی او غاښونه.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې نه ګېډه ده، نه کولمې لري!
ځواب: غلبېل.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې د ورځې وي، د شپې نه وي!
ځواب: لمر.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې شپې ګرځي د ورځې نه وي!
ځواب: ښماپيرک.
پوښتنه: د افغان منځ کې څه شی دی!
ځواب: د (غ) توری.
پوښتنه: هغه څه شی دی، اذان کوي، ملا نه دی، شا لري انسان نه دی!
ځواب: چرګ.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سر يې په قندار کې منځ يې په اسلام کې ښخ يې په تيمم کې دی!
ځواب: قلم دی.
پوښتنه: د اسمان په منځ کې څه شی دی!
ځواب: د(م) توری.
پوښتنه: د سمندر په منځ کې څه دي!
ځواب: د (ن) توری.
پوښتنه هغه څه شی دی، چې په افغانستان کې دوه دي، پاکستان کې يو دی، په بازار کې نشته؛ خو په دوکان کې شته!
ځواب: د (ن) توری.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ځوان وي، ويښته يې سپين وي، چې بودا شي ويښته يې تور شي!
ځواب: جوار.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په ابی دې لګي، په دادا دې نه لګي؟

ځواب: شونډې.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې بدن او سر یې د مرغه دي او پښې یې د اوښ دي؟

ځواب: شتر مرغ.

پوښتنه: هغه څه شی دی، کله چې کوټې ته ننوځي، تو له کوټه نیسي؟

ځواب: رڼا.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې پورته یې وغورځوي، ښکته ځي، چې ښکته یې و غورځوې پورته ځي؟

ځواب: توپ.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په پټي کې شین وي، په بازار کې تور وي او په کور کې سور وي؟

ځواب: چای.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې د ورځې ډکېږي او د شپې تشېږي؟

ځواب: بوټ.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې اول ترې سر غوڅېږي بیا ژاړي؟

ځواب: پیاز.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې تور دی کارغه نه دی، الوزي مرغه نه دی؟

ځواب: لوګی.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په دنیا کې دی، خو دنیا په هغې کې نه ده؟

ځواب: سترګه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې نه لاس لري، نه پښه، خو په هر ځای کې وي؟

ځواب: باد، شمال.

پوښتنه: خه څه شی دی، چې غاړه لري، سر نه لري، لاس لري، پښه نه لري؟

ځواب: منګی.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې یوه کوټه ده، له سپېڅو غمو ډکه؟

ځواب: خټه او غاښونه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې بیرون یې سپین زر او دننه یې سره زر دی؟
ځواب: هګی.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سپین دی، قند نه دی، ریښې لري، ونه نه ده؟
ځواب: غابښ.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په ژوندي پسې ګرځي؟
ځواب: سیوری.
پوښتنه: هغه کوم لمونځ دی، چې سجده پکې نشته؟
ځواب: جنازې.
پوښتنه: هغه کومه مېوه ده، چې د افغانستان بیرغ ترې جوړ شوی؟
ځواب: هندوانه.
پوښتنه: په یوې کوټه کې څلور کونجه دي، په هر کونج کې یوه یوه پیشو ناسته ده، یوه یوه پیشو درې دانې پیشوګانې ګوري، ټولې څو پیشو ګانې دي؟
ځواب: څلور.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په یو لوښي کې دوه رنګه اوبه وي؟
ځواب: هګی.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې بې پښو د انسان غوږونو ته ننوځي؟
ځواب: اواز.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې درې وزرې لري، یوه کاسه؟
ځواب: پکی.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په یو پسه، دوه بامه په وینو سره کېږي؟
ځواب: سپېره.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په بنده دروازه ګډېږي؟
ځواب: لوبیا.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په شته کې نشته، په نشته کې شته؟
ځواب: (ن) توری.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ټوله غوښه ده، هډوکی نه لري؟
ځواب: ژبه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په يوه ستنه دوه کوټې دي؟

ځواب: پوزه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې د مصر په منځ کې پیداکیږي؟

ځواب: د (ص) توری.

پوښتنه: د افغانستان په اخر سر کې څه دي؟

ځواب: د (ن) توری.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې الوزي مرغه نه دی، ستن وهي، داکتر نه دی؟

ځواب: مچی.

پوښتنه: هغه کومه مرغۍ ده، چې د زابل او د کابل نه جوړه شوې ده؟

ځواب: بلبل.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې که سم يې وکاروې، ابادي ده، که ناسم يې وکاروې بربادي؟

ځواب: د اور قوطی.

پوښتنه: هغه کومه ولسوالۍ ده، چې سرچپه شي او د (الف) توری يې حذف شی او د (و) توری پرې اضافه شي، نو د ړوند کلمه ترې جوړیږي؟

ځواب: د غزني اندړ ولسوالي.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې دوه لوښتې کوته ده، شهزاګۍ په کې ویده ده؟

ځواب: د وزی په خېټه کې بچی.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې وړه کوټه ده، له تیرو ډکه ده؟

ځواب: خوله او غاښونه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سر يې په لبنان کې دی او اخر يې په استانبول کې ؟

ځواب: د (ل) توری.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په کاسه کې يې نه خوري، په ډېران يې خوري؟

ځواب: چرګ.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سپېره خره ده، په ملا سورۍ ده؟

ځواب: ژرنده.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې دوه سترګې، دوه خولې لري؟
ځواب: قيچي.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې انسان يې لاس کېږدي، د ګمراهی نه بچ کېږي؟
ځواب: قرآن کريم.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې يوه لوېشت قد لري، سر يې ببر دی؟
ځواب: مسواک.
پوښتنه: هغه کومه مېوه ده، چې ځينې يې زړي لري، ځينې نه لري؟
ځواب: انګور.
پوښتنه: هغه کومه مېوه ده، چې يې ګله کېږي؟
ځواب: انځر.
پوښتنه: هغه کوم مکلف انسان دی، چې د هغې جوټه ناپاکه ده؟
ځواب: شرابي انسان.
پوښتنه: هغه کومې صفا اوبه دي، چې په هغې اودس کول روا دي، خو څښل يې ناروا دي؟
ځواب: هغه بحري اوبه چې په هغې کې څنډخه مړه شوې وي او زړې زړې شوې وې، نو دا اوبه پاکې دي (ځکه بحري څنډخې په وجود کې روانه وينه نشته) خو د صحت لپاره تاوان دی، نو څښل يې ځکه ناروا دي.
پوښتنه: هغه کوم مسافر دی، چې هغې سره ښکلې اوبه هم شته، بيا هم ده ته تيمم وهل روا دي؟
ځواب: دا هغه مسافر دی، په جامو يې کومه پليتي وي، په اوبو يې جامې وينځلي دي او دا به تيمم هم وهي.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې اغوستل کېږي هم، خو پوره کټ په کې پروت دی؟
ځواب: واسکټ.
پوښتنه: هغه کوم عمل دی، چې په هغې سره په کافر باندې هم د مسلمان حکم کولای شو، اګر چې هغه کلمه شهادت په زوره نه وي ويلې؟
ځواب: هغه په دوه عملونه دي: اول په مسجد کې لمونځ کول په جمعې سره اداکول. دويم په مسجد کې په خپل وخت اذان کول.

پوښتنه: هغه کوم کس یا (سړی) دی، چې په هغه زکات ورکول هم واجب وي، بلکې اخیستل ورته هم جایز دي؟

ځواب: دا هغه غریب زمیندار دی، چې د ده د ځمکې نه لږ فصل وشي، نو دی به د دې فصل نه زکات هم ورکوي، بلکې د غربت په وجه د نورو نه زکات هم اخیستلی شي.

پوښتنه: د جنازې په لمانځه کې څو سجدې دي؟

ځواب: د جنازې په لمانځه کې سجدې نه وي.

پوښتنه: هغه څه شی دی چې په خېټه کې یې اوبه دي، مال کې یې اور دی، سر کې یې لرګی دی؟

ځواب: چلم.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په هیڅ شي نه ماتېږي، خو په ترخه خبره ماتېږي؟

ځواب: د انسان زړه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، دوه رنګه دی، او بل رنګ نه غوره کوي؟

ځواب: دا اسمان دی، چې دوه رنګونه لري شین او اسماني.

پوښتنه: هغه کومه نقلیه وسیله ده، چې یو کس په کې دی او څلور یې چلوي؟

ځواب: د جنازې کټ.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې لس یې پښې دي، درې یې سرونه دي، دوه یې لکۍ دی؟

ځواب: کولبه او بزګر.

پوښتنه: هغه کوم لوښی دی، چې نه له چانه غضب شوی، نه د چا مال دی، نه د سرو او سپینو زرو دی، خو استعمال ناجایز دی؟

ځواب: هغه لوښي دی، چې د انسان د هډوکي او څرمن نه جوړ شوی وي.

پوښتنه: هغه څه شی دی، اودس ماتوي خو لمونځ نه فاسدوي؟

ځواب: په لمانځه کې بې اختیاره اودس ماتېدل.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې چادر یې ډېر لوی دی، توتولی نه شم، خوندي یې ډېر دي، شمارلی نه شم؟

ځواب: اسمان او ستوري.

پوښتنه: سپینه کوټه ده، رڼا په کې نشته، اوبه دي ماهي په کې نشته، ځنګل دی، زمری په کې نشته؟

ځواب: کوپره

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې نه پرخمکه شته، نه په اسمان کې، نه سړی دی او نه حیوان، کور یې د پاسته خای دپاسه دی؟

ځواب: بېړی یا کیښتی.

پوښتنه: د پلار اوسني عمر څلورچنده دی، اته کاله مخکې د پلار عمر د زوی د عمر (شپاړس کاله) و، د پلار اوسنی عمر یې څومره دی؟

ځواب: د پلار اوسنی عمر یې (۴۰) کاله دی.

پوښتنه: په اسلام کې ناروا عمل دی، که څېړې لومړی حرف ترې لرې شي او بیا معکوس شي، د افغانستان د یو ولایت نوم ترې جوړېږي؟

ځواب: هغه (دروغ) دي، چې په اسلام کې ناروا عمل دی او چې لومړی حرف یې لرې کړې، نو روغ شو او چې معکوس شي، نو (غور) ترې جوړېږي.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې بابا دنه دی، ویره یې بهر ده؟

ځواب: د جوارو وړی.

پوښتنه: هغه کوم خای دی، چې د اوبو دننه اور بلېږي؟

ځواب: سماوار.

پوښتنه: د تاجکستان د پایتخت نوم، د اونی کومه ورځ ده؟

ځواب: دوشنبه.

پوښتنه: هغه کوم کس دی، چې د هغه په آه او په زګیروي لمونځ نه ماتېږي؟

ځواب: د کوم مرض په وجې چې خپل واک کې نه وي.

پوښتنه: هغه کوم کس دی چې هغه ته په سرتور سر لمونځ ضروري دی؟

ځواب: دحاجي لپاره د احرام په حالت کې.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سړی یې په ښځې کې وګوري، نو ښځه پرې طلاقېږي؟

ځواب: کفر، کله چې ښځه کافره شوه، نو نکاح یې ماتېږي.

پوښتنه: هغه کوم هېواد پایتخت دی، چې د نوم اخر کې یې د (ی) توری یوځای شي، یو ډول سبزی نوم ترې جوړېږي؟
ځواب: روم، چې د (ی) توری ورسره یوځای شي، رومی ترې جوړېږي.
پوښتنه: د یوه هلك عمر ځلور کاله دی، د خور عمر یې د ورور د عمر نیمایي دی، سل کاله وروسته به یې د خور عمر څو کاله کېږي؟
ځواب: یوسلو دوه کاله.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې هم یې خوړلی شې، هم یې تاوولی شي؟
ځواب: څرخ.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سر یې ستا په لاس کې دی او اخر یې په دروازه کې دی؟
ځواب: کیلی.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې شپې ورځې گرځي، خو ځای نه بدلوي؟
ځواب: د ژرندې پل.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې پیل او پای نه لري؟
ځواب: دایره.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې پرون نه وه، نن پیدا شوه او سبا مري؟
ځواب: نن ورځ.
پوښتنه: یو کس اوبو یوړ، نو بل کس چغې کړې، چې ورور مې اوبو یوړه، خو هغه کس چې اوبو روان کړی دی، غږ کړو، چې دا چغې وونکی کس زما ورور نه دی، دا یې څه کېږي؟
ځواب: دا یې خور ده.
پوښتنه: هغه کوم فرض لمونځ دی، چې کله قضا شي، نو د هغې اعاده نه وي؟
ځواب: د جمعې د ورځې لمونځ دی، چې قضا شي بیا به ماسپښین لمونځ کوي.
پوښتنه: هغه کوم عمل دی، چې په هغې سره لمونځ نه ماتېږي؟
ځواب: د مار یا لړم وژل.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې پرته د پراشوټ نه په هوا کې کرځي؟
ځواب: لوګی.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې بند شي بیا بې خوک نه خلاصوي؟
ځواب: قبر.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې وراچوې یې ډکېږي نه، چې وږې شي صبرېږي نه؟
ځواب: ګېډه.
پوښتنه: هغه کوم سورت دی، چې په هغې کې دوه ویشت (۲۲) ایاتونه دي او په هر ایات کې د الله تعالی اسم ذات راغلی دی؟
ځواب: سورة المجادله.
پوښتنه: هغه کوم فقیر دی، چې په هغه باندې لازم دي، چې قرض روپۍ راواخلي او حج پرې وکړي؟
ځواب: دا هغه فقیر دی، چې اول مالداره و، حج پرې فرض و، خو دې حج ونه کړو او ورسره پیسې نه شته، نو دا به ضرور حج کوي.
پوښتنه: د زوی د ماما مور، د زوی د پلار څه کېږي؟
ځواب: خوابنې.
پوښتنه: هغه کومه مېوه ده، چې که وږې شې خوړلی یې شې، که تږی شې، نو څکلی یې شې، که یخني دې وشي، نو ځان پرې تودولی شي؟
ځواب: کوپره.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې که له غره له سره راولوېږي، نه ماتېږي او که پښه پرې کېږدې، ماتېږي؟
ځواب: د وزې پچه.
پوښتنه: د اختر لمانځه لپاره د اقامت حکم فرض: که واجب او که سنت دی؟
ځواب: د اختر لمانځه لپاره اقامت نه وي.
پوښتنه: یو ښکاري درې هیلۍ ښکار کړې دي، د هرې هیلۍ په خېټه کې یو یو بچی دی، د ټولو هیلیو شمېر څومره دی؟
ځواب: هیلۍ هګۍ اچوي، بچي نه زېږوي.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې هره میاشت زیږي؟
ځواب: سپوږمۍ (میاشت).
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ټک کوي، درېږي، خو پښې نه لري؟
ځواب: ساعت.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سر یې خوږ دی، منځ یې کوږ دی، بیخ یې تریخ دی؟
ځواب: کوژده.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې نه شمېر لري، نه شمېرل کېږي؟
ځواب: د سر ویښتان.
پوښتنه: هغه کوم کس دی، چې هغه ایات د سجدې واوري، بیا هم په هغې باندې سجده لازمه نه ده؟
ځواب: حایضه ښځه.
پوښتنه: هغه کوم کس دی، چې په لمانځه کې د تشهد په لوستلو پرې سجده سهوه لازمېږي؟
ځواب: هغه کس چې په لمانځه کې د قیام په حالت کې تشهد، ولوست نو سجده سهوه پرې لازمېږي.
پوښتنه: هغه څه شی دی، په هوا کې یوه کلا ده، سر یې ښکته، ټوله عالم ته برالا ده؟
ځواب: په ونه کې غومبسو ځاله.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په تېره سولېږي، خواره په تندي کې دی، کور یې په خنګله کې دی؟
ځواب: د ږیرې ماشین.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې دده وله ده، په ټول کال کې د دوه کلونه نیسي؟
ځواب: د کال دوه اخترونه.
پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ،ټوله ورځ کار کوي، چې بیګا ته راشي، سره خوله ونیسي؟
ځواب: یوم.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په هند او لندن کې شته، خو په جاپان کې نشته؟

ځواب: د (د) توری.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په خپله حرکت نه شي کولای، چېرته تللی هم نه شي، خو خلک وايي چې دا کابل ته تللی دی، دا کندهار ته تللی دی؟

ځواب: سړک.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې مور وي رښتیا وايي، چې وړې شي دروغ وايي؟

ځواب: ساعت.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې پاس هلیکوپټر دی، لاندې ډاکټر دی؟

ځواب: ماشی.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې چرګ نه کوچنی دی او د ونې نه عټ دی؟

ځواب: توتي.

پوښتنه: هغه کوم رنګ دی، چې سرچپه یې کړي، د خوراک په څېر تېری جوړېږي؟

ځواب: تور رنګ، چې سرچپه یې کړې، روت تري جوړېږي.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې لښته ده، زرلښته ده، نه ماتېږي؟

ځواب: اوبه.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په اوبو کې نشته؟

ځواب: د (ن) توری.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ورک یې یو کړې، خو تاوان به د دوو ورکوي؟

ځواب: پیزار لکه: بوټان، څپلی.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې په لاس کې یې واچوي غونجېږي او چې په اوبو کې یې واچوي ویلي کېږي؟

ځواب: کاغذ.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې ملا پاس زانګي سر یې لاندې زانګي؟

ځواب: کلف او کیلي.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې پاس ډېران اور اخستی دی، اوبه یې لاندې لاړې؟

ځواب: چلم.

پوښتنه: هغه کومه مېوه ده، چې د زړه په سر چاودلې دی؟

ځواب: پسته.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې بې ستنې ولاړ دی؟

ځواب: اسمان.

پوښتنه: زه دلته یم، خو لاسونه مې کراچۍ کې دي یانې څه؟

ځواب: تاسره لس ګاډی دی.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې هم ترې انسان جوړ شوی دی، هم ترې لوښي؟

ځواب: خټه.

پوښتنه: هغه کومه کلمه ده، چې راسته یې ووایې د ځان مانا ورکوي او که سرچپه یې ووایې، د مېوې نوم ترې جوړېږي؟

ځواب: ما چې سرچپه شي ام ترې جوړېږي.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې سوری نه لري؟

ځواب: لمر.

پوښتنه: د افغانستان کوم ولایت نوم دی، چې ټکی نه لري؟

ځواب: وردګ.

پوښتنه: هغه څه شی دی، چې یو دی او تل له تاسره دی؟

ځواب: الله تعالی.

نورې بیا...

# سرچينې

۱. بخشنده، فرهاد. (۱۳۷۴ل. کال). چيستان. پېښور: اريانا کتاب فروشي.
۲. کابلی، عبدالرفيع. (۱۳۸۱ل. کال). لوبې او پوهنه. ۲ ټوک. کابل: مؤسسه انتشارات کابلي.
۳. کابلی، عبدالرفيع. (۱۳۸۱ل. کال). لوبې او پوهنه. ۳ ټوک. کابل: موسسه انتشارات کابل.
٤. ملالی، ميوند. (۱۳۹۳ل. کال). د مغزو جنګ. ننګرهار: روغانيوال خپرندويه ټولنه.
۵. منګل، علی محمد. (۱۳۸۱ل. کال). نومښودنه (دا څه شی دی؟). پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.
٦. نثار، نورالحبيب. (۱۳۷۸ل. کال). د ماشوم نړی. پېښور: د اريک د ګرځنده کتابونونو اداره.
۷. وحدت، صديق الله. (۱۳۹۵ل.). ٦۰۰ ذهني سوالونه او ځوابونه. ننګرهار: ګودر کتاب خپرنځی.

## دلاندي نورو كتابونو لپاره باور كتابتون ويبپاڼي ته ورشئ او يا هم له مونږ سره اړيكه ټينګه كړئ

01_احقاق الحق ځلور ټوكه

02_دواده درسم او رواجو اصلاح

03_دموراو پلار حقوق مولانا شاه حكيم محمد اختر

04_ جوامع الكلم څلويښت احاديث مفتي محمد شفيع

05_داسلام ستر اتل امام اعظم ابوحنيفه (رح)

06_نبوي او سپيڅلي ويناوي

07_دخالد بن وليد رضي الله عنه جهادي كارنامې

08_حقوق الرجال يعني دخاوند حقوق.

09_ د همجنس بازي بربادي او دهغه علاج

10_ لس مشهوري ناروغۍ پېژندنه

11_داسلامي معلوماتو ذخيره پښتو (دري حصي) _

12_دامام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه حيرت انګيز واقعات

13_دغير مقلد ينو دامام بخاري رح او بخاري سره اختلاف

14- تفسير معارف القران پښتو (لس ټوكه

15-علم النحو پښتو

۱۶- د ماشومانو ښكلا

۱۷- جمال القران

۱۸- د معاشري اصلاح
۱۹- تشريحات نابغه
۲۰- تحقيقات حماسي
۲۱- ګلزار مدينه
۲۲- تنبه الغافلين
۲۳- اتلس ناولي قاتلين جنايي ناول
۲۴- المهند علي الفند
۲۵- وا مدني ياره تعتيه غورچان
۲۶- انسان او شيطان
۲۷- زاد الطالبين پښتو ترجمه
۲۸- جنت کالي
۲۹- جنتي ښځه
۳۰- بدر الفتاوي
۳۱- نشر الطيب في ذکر النبي الحبيب
۳۲- فتاواي يوسفيه
۳۳- فن الخطابه (د وينا فن)
۳۴- حقيقت خوارج (دري)
۳۵- د ورځي يوه خبره
۳۶- ارشاد الطالبين شرح زاد الطالبين

يادونه: په سلګونه اسلامي کتابونه د باور کتابتون څخه ښکته کولي شي

عزت الله سلطانزي
www.facebook.com/Ezatullah.sultanzai
What App: ⓪⓪⑨③⑦⓪⑥⑨①②⑦⓪②



# دا پوهر دی!

د مجازي مخ کتاب (Facebook) په دروازه ورننوتم، سمدلاسي د راغلو رکوېسټونو ځای نه لرم. خو خواره نوي خوانان راسره په دې کتاب کې نور هم ملګري شول، خو یو له ملګرتیا غوښتونکو سره سم سلام وکړ، د سلام په ځواب سره مو خبرې همداسې پسې ونښتېدې.

خو ورځې وروسته یې وویل: ایا کولی شم، چې له نږدې سره وګورو؟

په موسکانده ژبه مې ځواب ورکړ: هو، هر وخت کولی شي ګله!

ورځ دوه وروسته د ګودر کتاب خپرنځي په دروشل په ولاړ برابر، خلاصه تښتېد، موسکانده څېره، په رنګ شنمرنګه، ننګې زلمی ودرېده، له وروړ یې زما وپوښتل: صادق صیب په خپرې وګورم!... هغه ورته زه په ننه کړم، ترڅنګ مې راغلی، ویې ویل: پوهر یم.

ورځنګ شوم، لاسونه مې د غېږې په دود ورته پرانیستل، تر ستړي به شو وروسته مې د کیناستو ورته وویل... به شیې مو سره خبرې بدار وکړې... له ناستې او خبرو مې پوه شوم، چې لا د پوهنځي زده کوونکی دی؛ خو د کتاب لوستنې او پیا پېره تېږه د ارواپوهنې د کتابونو ډېر مینه وال و... خو کتاب مې ورډالۍ کړل او له همدې ځایه مو په مجازي نړۍ سربېره حقیقي ملګرتیا هم پیل شوه، څه وخت روسته مې انټرې د یو کتاب برابرولو غوښتنه وکړه، دا هم په ورته ننګه راسره ومنله او اوس تاسو دا دی، کتاب مې ستاسې په لاسونو کې دی.

نوم یې سطیع الله دی، پوهر تخلص کوي، د سپدرو ولایت کونړ د نورګل ولسوالۍ د مزار درې د ستنرو په لمن کې یې دی نړۍ ته په ۱۳۷۷ ل. کال د ښاغلي نورمحمد کور کې سترګې غړولې دي.

اوس د ننګرهار ولایت د شېوې ولسوالۍ بازار ته نږدې کلي کې اوسېږي او لا د خولیم نوالګي زده کوونکی دی، زه ورته د ژوند په ټولو چارو کې همداسې ناښته مینه او خلاقه ایښه غواړم.

په درنښت

ستاسې کشر

صادق الله صادق

سالمپور، بېسود - ننګرهار

Download from:aghalibrary.cm



۴۰

۱۳۸۵
ګودر خپرندویه ټولنه
۰۷۸۲۵۰۰۹۱۶ - ۰۷۹۸٤۸۷۸۷۹
meenasadiqs@gmail.com